مورچل

پرروغتون وحشیانه برید

او پروړاندې یې له شرمه ډکه چوپتیا!

نهم کال لسمه، پرلپسې ۸٦ یمه ګڼه ذوالحجة الحرام، محرم ۱۴۳٦-۱۴۳۷هـق اکتوبر ۲۰۱۵ ز

- ناټو ولې دافغانستان جګړه کې برخه نه اخـــلي؟؟!
- دمجاهدینو دسړنیو عملیاتو تکتیکي ځانګړتیاوې!
- دسولې دشورا ټیکداران!!!
- روسیه از تجربه تلـخ امـریکا، درس عبرت بگیـرد
- له هیواده ولې افغانان په تیښته دي؟
- په اقـصی جـومـات کې د صهیونـیزم وحـشت
- دلیـکنې او لیکوالۍ علـمي آرونه اومعیارونه



مورچل

نهم کال لسمه، پرلپسې ۸۶ یمه گڼه ذوالحجة، محرم ۱۴۳۶-۱۴۳۷هـ ق سپتمبر ۲۰۱۵ ز

لړلیک

گڼه	مطلب	مخ
۱	ناټو ولې د افغانستان جګړه کې برخه نه اخلي؟!	۱
۲	د مجاهدینو د سپڅلیو عملیاتو تکتیکي څنګړتیاوې	۳
۳	د سولې د شورا تیکه داران!!!	۵
۴	روسیه از تجربه تلخ امریکا درس عبرت بگیرد	۸
۵	پر روغتون وحشیانه برید او پر وړاندې یې له شرمه	۱۰
۶	له هیواده ولې افغانان په تیښته دي؟	۱۲
۷	دلیکنې او لیکوالۍ علمي آرونه او معیارونه	۱۵
۸	د مورچل دار الافتا	۱۹
۹	د جهاد فقهي مسائل	۲۱
۱۰	نامتو مسلمان فاتحین	۲۳
۱۱	تونې بلیر از سگ خانگي جورج بش تا معذرت	۲۶
۱۲	د اسلام غزوات او سرایا	۲۸
۱۳	په اقصی جومات کې د صهیونیزم وحشت	۳۲
۱۴	د بانک نوټ دیني لید لوري (شرعي حیثیت)	۳۴
۱۵	جهان اسلام؛ غرب فریبکار و مسلمان ناامید	۳۷
۱۶	جنګي جنایتونه	۴۱
۱۷	افغان خواکونه ولې د طالبانو مقابله نه شي	۴۴
۱۸	هغو چې بانکونه لوټل، اوس بنار ګوتې جوړوي	۴۶
۱۹	د مورچل وړمې	۴۹
۲۰	د امارت پیغامونه	۵۱
۲۱	د مورچل خبرونه	۵۲

علمي، سیاسي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکور (شفق)

کتنپلاوی

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، د مجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

ناټو ولې

دافغانستان جګړه کې برخه نه اخلي ؟؟!

دې وروستيو کې چې داسلامي امارت سرښندونکيو مجاهدينو دهيواد د شمال ولايتونو صفحات تر پوځي دې وروستيو کې چې داسلامي امارت سرښندونکيو مجاهدينو دهيواد د شمال زون صفحات تر پوځي پوښتنې لاندې راوستل او دګوډاګي رژيم څخه يې دکندز دښار په ګډون دتخار،بدخشان ،سرپل ،بغلان ،بلخ ،فارياب او فراه غوندې په اصطلاح مصؤنوولايتونوکې ښې ډيرې ولسوالۍ او نظامي مراکز فتحه او ډيرې نظامي وسايط او وسايل يې تري ولجه کړل، نو په ډيره بې صبرۍ دسپينې مانۍ تورپوستې مشر-(بارک اوباما) دخپلو عسکرو دپاتې کيدوله پلانه پرده پورته کړه اوتر(۲۰۱٦)زکال تر وروستيو پورې يې دخپلو تيرو ژمنوخلاف دخپلو زرګونوپوځيانوپه شتون تاکيدوکړ،چې همهاله ورسره دناتو ځينې ځيره خواره هيوادونه هم وپسخيدل،او دامريکايانو سره يې دخپلوعسکرو په پاتې کيدو داشغال ارادې تمديد کړي ،خوځومره چې تمه وه، هغسې ونه شول ،ټولو ناټوالو لکه د(۲۰۰۱ز)کال دتور يرغل په شيبو کې ورسره ديرغل تداوم بدرګه نکړ،بلکې دځوګوتوشميرهيوادونونه پرته ،نورو ورته دستنيدنې اوميعادي خروج ګوتځنډنه وکړه ؛ ښکاري داسې چې امريکايان به داخل راتلونکی (۲۰۱٦)زکال دافغانستان دجنګ په ميدان کې ځانته ولاړوي او دناټو دپکت غړې هيوادونه به يې نورد سوال کچکول کې خيرات وانه چوي .

د ناټو سرمنشي دې، وروستيو کې په څرګنده اعلان وکړ، چې دغه ټرون د دې پلان نه لري، چې د افغانستان په جګړه کې د بيا لپاره ځان ښکيل کړي.

(ينس ستوتنبرګ) په هسپانيا کې په يوه خبري ناسته کې وويل، دا ټرون به په افغانستان کې نوی جنګي ماموريت پيل نه کړي، هاغه چې دناتو سرمنشي- يې دکابل اداري سره مرستې ته ژمن دی ،هغه دګوتوشمير روزونکيو پوځيانوميشتيدنه اود(سلاومشوروورکولو) روحياتي کمک دی، چې په وينا به يې دکابل اداري ته دافغان ولس پر وړاندې دجنګ مشورې او روزنه ورکوي او دخپل مسلمان ولس پرضد به يې روزنه کوي ، خو دطالبانو پرخلاف به جنګي ماموريت نلري .

لکه چې ټولو نړیوالو ته څرګنده شوه، دا (۲۰۱۵ز)کال د(عزم) داعلان شویو عملیاتو په بهیرکې، اسلامي امارت دغلامې اداري مستحکم او پیاوړې پوځي تاسیسات ونړول او ستر ې سوبې یې ترلاسه کړي ،داشغالګروپه هڅو روزل شوي نا ملي اردو او پرې شوي لګښتونه یې په سیند لاهو کړل او پدې یې وپوهول، چې وروستی فتحه دمجاهدینوده اوکه هرڅومره ډیروخت یې بهرنیان پالنې او روزنې ته شپې سبا کړي، نو پایله کې به یې داهرڅه دهوایي برېوکی غوندې (هباءً منثورا)وي او کومه اغیزمنه ګټه به ورته ونکړي ،مونږ وکتل، چې ددې نه مخکې روسانو او انګریزانو،همداسې تجربې تکرارکړي او همداسې حیلې او بهانې یې جوړې کړي ،خو بالاخره په ډیرخجالت او رسوایې سره ،له دې هیواده وشړل شول او نن یې له شکست او رسوایي پرته ،نه نوم شته او نه نښان ! همداسې وړاندوینه دامریکایانو په هکله هم کوو،چې انشاءالله تعالی دخپلو ښکیلاکګرو مشرانو په پل به پل ږدي او له سترې رسوایې سره به مخ کیږي !

هوکې ! ناټو چې دکابل له بلواکې اداري سره دخپلو غوږو ژمنو سربیره بیا هم جنګي ډګرونو کې برخه اخستل مسترد کړل ، ګوندې همدا حقیقت یې درک کړی وي ،چې وروستی فتحه دافغان او مجاهد ولس ده ،او که هرڅومره لګښتونه پر زرخریدو غلامانو وکړواو یا هم دخپلو نازولیو عسکرو وینه پرې تویه کړو، نه کومه مثمره ګټه لري اونه یې معقول نتایج ترلاسه کولای شو،دهندوکش،سپین غر، تورغر ،سلیمان غر اودهمالیه او کسې غره زمریانو چې ددې اسلامي خاورې دخپلواکۍ لپاره دکوموغرونو او رغونو مزلونه کړي او خپلې معصومې وینې یې پکې تویې کړي ،پایله کې به ددې سرشارې خاورې وراثت همدوئ ته پاتې وي او بهرنیان به پکې دپښې دایښودلو ځای هم نلري ،نویې داسې سطحي او بابیزه پریکړه وکړه، چې نه به پرې دکابل غلامان ښاد شي اونه به ددوئ یرغلګرلاسونه دځه وخت پورې ددوئ له سره لیرې شي !

دچارو کارپوهان پدې آند دي، چې ناټو له یوې خوا دامریکایانو تر بشپړ فشار لاندې ده او له ویرې داسې هم نشي کولای، چې چورلټ دافغانستان اشغال پای ته ورسوي او نور یو سر دوه غوږونه له هیواده وتښتي ،او له بلې خوا نور لویدیځ ولسونه ددې بې ګټې جنګ او دپیسو او عسکرودتلف اجازه هم نه ورکوي، نو یې مجبوراً داسې نیمګړې او نا اړونده پریکړه دخپل نجات لپاره ښه لاره وبلله .

افغان مجاهد ولس چې دخپلې آزادۍ په لاره کې یې ډیرې سړې تودې ګاللې او دخپلوسپیځلو وینو په بدل کې نور دهیواد خپلواکۍ ساحل ته ورنږدې شوی ،پر لوی خدای ج باورې دی، چې نور د(۲۰۰۱ز)کال دتیرې کونکیویرغلګرو کډې په شا شوي او دماتې په درشل ولاړدي ،ډیره نږدي به وي چې دخپلې وروستۍ فتحې او خپلواکۍ ورځ ولمانځي او دخونکارو یرغلګرو پر تابوت وروستی میخ ټک وهي !

انشاءالله تعالی

شاهد (غزنیوال)

د مجاهدینو د سرنیو عملیاتو تکتیکي ځانګړتیاوي!

کله چې امریکایانو د ۲۰۱۴کال په پای ته رسیدو سره په افغانستان کې خپل پوځي ماموریت پای ته رسیدلی اعلان کړ او د یو لړ پوځي مراسمو په ترڅ کې په کابل کې د امریکا جنګي بیړغ رابنکته او سره را ونغاړه، له هغه سره سم د کابل رژیم د واکمنۍ د رانغاړل کیدو مرحله هم پیل شوه .

په افغانستان کې د خارجي یرغلګرو د پوځي ماموریت پای ته رسیدلو د رژیم د ماتې خوړلو پوځیانو لپاره د خطر زنګ په حیث د هغوی مورال سخت اغیزمن کړ.

ځکه هغوی چې د نیابتي جګړې د اجرتي جګړه مارانو په حیث له مجاهدینو سره جنګیږي، د خارجیانو له پوځي حضور او د هغوي له پوځي مرستو پرته بله نه کومه انګیزه لري او نه هم د هیواد او خاورې ساتلو روحیه .

هماغه ده، چې دې کار مجاهدینو ته په ټول هیواد کې د پوځي عملیاتو د تشدید روحیه ورکړه او له بدخشانه تر نورستانه، له هلمنده تر کونړه ، له فاریابه تر ننګرهاره ، له کابله تر کندوزه پورې په رژیم مهم پوځي مراکز تر پوځي ګوزارونو لاندې ونیول.

هغه څه چې د مجاهدینو سرې پوځي عملیات له نورو کلونو څخه متمیز کوي هغه مختصرا په لاندې دول تشریح کیږي:

۱- سرکال د مجاهدینو عملیاتو په ټول هیواد کې مطلقا تهاجمي روحیه خپله کړې ، په دې دول چې د کندوز ولایت د مرکز له فتحې رانیولې د هغه تر ولسوالیو بیا تر بدخشان ،تخار، بغلان، سرپل، فاریاب ، غور ، بادغیس ، هرات ، فراه هلمند، غزني او... د هیواد په مختلفو ولایتونوکې هرځای برید لومړی د مجاهدینو لخوا پیل او د رژیم امنیتي خواکونو د دغو تهاجمي بریدونو په مقابل کې دفاعي وضعیت غوره کړی .

۲ـ مجاهدینوسرکال په خپلو پوځي عملیاتو کې د خرپ او ترپ ګوریلایي بریدونو په ځای د ښارنو د جګړې تکتیک ته مخه کړې، چې په هغو کې یې د پام وړ بریالیتوب تر لاسه کړی.

د بیلگې په توګه مجاهدینو وکړای شول د کندوز ولایت مرکز چې د ښاري جګړې په ترڅ کې یې فتح کړ پوره دوې اونۍ ترخپلې پوځې ولکې لاندې وساتي .

سره له دې چې د مجاهدینو لپاره پرکندوز ولایت تهاجمي برید د ښاري جګړې د پیل لومړنی مرحله وه خو مجاهدینو وکړای شول دغه مرحله په داسې بریالي صورت پایته ورسوي، چې خپله دښمن هم دهغوي په پوځي او تکتیکي وړتیا اعتراف وکړ.

۳ـ مجاهدینو سږکال د ښاري جګړې ترڅنګ د دښمن په خلاف د جبهه یي جګړې تکتیک هم ښه په بریالیتوب پلی کړ او د دې تکتیک په کارولو سره یي په فاریاب ، سرپل ، هلمند تخار ، او بغلان ولایتونو کې رژیم ته درانه تلفات ور وارول.

۴ـ مجاهدینو وکړای شول سږني بریالي عبریدونه د تهاجمي ، ښاري جګړې، او جبهه یي عملیاتو په تر سره کولو سره په داسې هدفي شکل عملي کړي چې ټول ترکیز یې د دښمن په پوځي اهدافوي او ولسي خلګو ته ورکې هیڅ ډول تلفات ونه رسیږي.

۵ـ د مجاهدینو سږني عملیات په خپلو نورو ځانګړتیاوو سر بیره هیواد شموله عملیات ول ،چې په یوه وخت یې د هیواد مختلفې ساحې احتواء کړې او د دښمن پوځي قوت یې په ټول هیواد کې متلاشي کړ.

۶- د مجاهدینو سږنیو عملیاتو هم خارجي یرغلګرو او هم د هغوی داخلي مزدورانوته دا ثابته کړه چې هغوی د هیواد په هره ساحه او هروخت چې وغواړي کولای شي خپل پوځي بریدونه عملي کړي ، هغه که د لویو ښارونو په منځ کې مهم اهداف وي ، که د ولایتونو مرکزونه وي او که عمومي لارې او یا د ولسوالیو مراکز وي .

۷ـ د مجاهدینو سږنیو عملیاتو دخارجي یرغلګرو ټولې هغه ادعاوي باطلې کړي چې دوی یې د داخلي ځواکونو د پیاوړتیا د هغوی د ښې پوځي روزنې او په یواځې سر دهغوي له لوري د مجاهدینو د مقابلې کولو په اړه کولې.

۸ـ د سږنیو عملیاتو په جریان کې مجاهدینو وکړای شول د هیواد په ګوټ ګوټ کې له مزدور رژیم څخه د سیمې په لاندې کولو سره له هغوي څخه په زرګونو میله سپکې او درنې وسلې ، زغره لرونکي وسائط او په ډیره پراخه پیمانه پوځي مهمات غنیمت کړي چې دوی کولای شي په همدغو مهماتو او پوځي وسائیلو سره نورهم د رژیم د بقایاوو پرخلاف خپله عملیاتي لړۍ جاري وساتي .

سعید بدخشانی

روسیه از تجربه تلخ امریکا

درس عبرت بگیرد

پس از آنکه سلسله برچیدن وزدودن بساط منهوس نظام رژیم اداره دو سر مزدور کابل درسال جاری در همه گوشه وکنار کشورعموما وبطور ویژه در صفحات شمال کشوراز سوی مجاهدین سلحشور امارت اسلامی سیل آسا آغاز گردید،که در جریان تسریع عملیات کمرشکن عزم،پوستهای امنیتی ،مراکز وواحدهای اداری دشمن یکی پی دیگر سقوط میکرد که این سلسله هنوز هم بشدت ادامه دارد وبه پیش میرود،سران بی صلاحیت رژیم کابل را نهایت نگران وسراسیمه ساخت که ایشان چطوروباهمکاری کدام کشوراشغالگر واستبداد گردیگر این افتضاح جبران ناپذیر را جبیره و امنیت را در مقرریاست جمهوری وپایتخت کشور تأمین نمایند.

لذا سردمداران بی اختیار اداره دست نشانده کابل همانند,, انسان سیل بُرده,,به هرطرف دست امداد واستغاثه را دراز نمودند تاکه باجلب حمایت برخی کشورها علی الخصوص با همکاری نظامی روسیه از این حالت ذلت بار نجات یابند،درخواست کمک رزمی عین وغین از روسیه درحالی صورت میگرد که ایشان از حمایت بادارغربی خویش مأیوس و ناامید شدند وفکر نمودند که بجز پناه بردن به سایهء استکباروخونخوار جهانی دیگری(روسیه) چاره ای نخواهند داشت،همین بود که رئیس اداره فاقد الاختیار کابل از روسیه خواهان جنگندها وتجهیزات نظامی شد تا باشد با استفاده از کمکهای روسیه با نیروهای طالبان بنبرد ادامه بدهند،همینگونه اداره ناتوان عین وغین امارت اسلامی را خطرجدی برای کشورهای همسایه وروسیه تلقی نمودند،این گونه اظهارات دروغین نشانه بارزآشفتگی وضعف دشمن میباشد.

امارت اسلامی اراده تهدید به هیچ کشور منطقه ویاهم به کشورهای همسایه ندارد،همسایه گان کشورما نباید امارت وپالیسی طالبان را از دهان دشمنان شان بشناسند زیراکه این حرکت اسلامی از خود پالیسی روشن در تمام ابعاد بخصوص در مورد رفتار وروابط با کشورهای جهان وهمسایگان دارد لذا طالبان به هیچ کشوری خطر وتهدید نیست.

آری!استکبارجهانی(امریکا)بارویا وخیال مغرورانهء خویش واستقبال گرم یک مشت وطن فروشان به کشور عزیزما تجاوز بی رحمانه وبی شرمانه نمودند،میهن رجال خیز وملت باشهامت وآزدمنش مارا گمان چون بعضی کشورهاوملت های مستعمره نموده خواستند تاملت غیور افغان را با تطمیع دالر،کمک های دروغین بشردوستانه،عمران وبازسازی مجدد کشوراغوانمایند اما بی خبر از آنکه این دیار وملت مجاهد پرور شیربچه های مؤمن،مجاهد ورادمردان دلیر را به آغوش دارد وتربیه

نموده است که باقیمت خون وجان شان از ارزش های دینی وآزادی سرزمین شان دفاع میکنند.

متذکر باید شد:که عدهء از غلامان حلقه بگوش غرب وشرق با الهام گرفتن از بادارانشان چنین کلماتی را زمزمه می کردند ومیکنند که:تاریخ به عقب باز نمیگردد.به باورمن این گونه حرف ها شباهت به سخنان کمونیستها دارد که آنها از لیلین آموخته بودند که بالآخره با تمامی آرمانهای شوم شان از سوی همین ملت غیور زدوده واز صفحه جهان حزف شدند انشاء الله مزدوران غرب عنقریب است که همانند مزدوران شرق نیست ونابود گردند.

درواقعیت این همه تجاوز بی شرمانه،قتل عام،رنج وشکنجه ملت مظلوم ما از طرف امریکا وشرکای جرم بین المللی اش نتیجه درخواست دین فروشانه ووطن فروشانه رهبران خون آشام چون سیاف،ربانی،صبغت الله وقوماندانان جابر ایشان که نه باورمند دین بودند ونه هم استقلال وآزادی وقدامت تاریخی آزاد منشی ملت ووطن نزدشان هیچ ارزشی داشت میباشد که قدم ناپاک ابناء قرده وخنازیر(یهود ونصاری)را به حریم کشور ما کشانیدند وسبب شهادت هزارهاتن هموطنان ما وتخریب کشور غارت معادن این مرز وبوم شدند.

لله الحمد مجاهدین باعزم متین وتوکل به الله وپشتیبانی مردم متدین خویش علیه اشغالگران غربی ومزدوران وطن فروش شان قیام ودست به جهاد مسلحانه زده وبا هدیه هزاران شهید وقربانی بینی متجاوزین را بخاک مالیده وطلسم سحرآمیزش راشکستاندند که تمام جهانیان به این گواه اند وخود امریکا نیز مکرراً اعتراف به شکست مفتضحانه خویش نموداست.

بطور فشرده در سلسله اخراج وخروج جهان کفر بسرکردگی امریکا از کشور، مجاهدین مناطق وسیعی را بشمول بعضی ولایات دها ولسوالی وصدها مراکز دشمن را تسخیر نموده پرچم خود را برفراز ساختمان های دشمن برافراشته ودراهتزاز دراوردند،لذا این فتوحات پیهم وچشم گیر باعث شد که سران اداره پوشالی کابل دست را به روسیه روسیاه دراز کنند تا بتوانند با پشتیبانی این جانواران وقاتلین قبلی افغانان وهموطنان متدین ما حکومت خود را تقویت بخشند.

روسیه باید ازاضمحلال وبرهم شدن نیرو وقوّت امریکا در افغانستان درس عبرت بیگرد فریب درخواست های فرزندان ناخلف غرب را نخورند وباردیگر خود را دخیل جنگ افغانستان نسازند در غیرآن همانند که این ملت بامشت های آهنین خویش بردهان غرب کوبیدند بردهان آنها نیز خواهند کوبید.

مجاهدین امارت اسلامی مبارزه خود را در برابر نظام فاسد وتحمیل شده غرب بخاطر ادامه میدهند که غرب علیه یک نظام اسلامی ومستقل این ملت حمله نموده وآنرا ازبین بردند لذا این مبارزه علیه جیره خواران غرب وغربیان تا پاکسازی کشور ازوجود ناپاک دشمنان دین واستقرار یک نظام اسلامی ادامه خواهد داشت،پس روس نباید خود را به عواقب تلخ امریکا مواجه ساخت،تاریخ این را ثابت نموده است که این کشور هیچ متجاوز را نپذیرفته بلکه برعکس با رسوای تام وذلت اشغالگران بیرون رانده اند ومی رانند.وماذلک علی الله بعزیز.

حسن زوی

پروغتون وحشیانه برید

اوپروړاندې یې له شرمه ږکه چوپتیا!

دکابل اداري پردیپالو، په بلواکه اقتدار مینو دواړوغلامو تش په نامه مشرانو، اشرف غني اوعبدالله چې دامنیتي ټرون په ټوم دامریکایانوسره دهېواد اوملت پلورلوسند لاسلیکاوه، نوهماغه مهال ورسره په دین ،آزادی، اوخپلواکی مینوتولوغیرتي افغانانوشدید مخالفت بشکاره کړاوتولوپه یوه خوله ویل چې ددې سند لاسلیکول په حقیقت کې امریکایانوته دقضایې مصئونیت وثیقه ورپه لاس کول دي، چې همداحقیقت یې اوس ورځ په ورځ روښانه اوراسپړل کېږي .

اوس امریکایې ځواکونه پرته له کوم قضایې تعقیبه ځانونه ددې حقدار بلکې مکلف ګڼي چې بې له کوم دلیل نه ښه په خلاص مټ پرعامو افغانانو بمباروکړي ،کورونه یې وروران کړي اوپرته له کومې وېرې یې ووژني اوهرځای چې دوئ یاددوئ لاسپوڅي دمجاهدینوله لورې ګوزار وخوري انتقام یې له ولسي وګړو واخلي اویواځې په دومره ویلوخپلو ځانونوته براءت ورکړي چې وژل شوي خلک طالبان وواویاووایې چې دلته طالبانوشتون درلود ، چې دولسي وګړودبې رحمانه قتل وروستی پېښې همدې حقیقت ژوندئ بېلګې دي .

دسمت شمال نورو ولایتونوته ددروازې حیثیت لرونکي دهېوادپنځم لوی ښارکندز باندې داسلامي امارت دمجاهدینوکامیاب برید ؛ فتحه اودزندان نه یې دکابو۵سوه بندیانوازادول چې اکثریت یې ځایې مجاهدین وو ،نړۍ ډېره حیرانه کړیده اوټول په یوه خوله وایې چې ۱۴کاله پس پرقندوز دطالبانو قبضه دکابل اداري اواشغالګروځواکونولپاره سترملاماتونکی ګوزاردی.

هغه رسنئ چې شپه او ورځ داشغالګرواوکابل اداري لپاره تبلیغات کوي هغه هم دې اعتراف کولوته اړشوې چې ووایې : دقندوز نیول د۲۰۰۱م کال نه پس دطالبانوترټولوستره کامیابي ده .

دکندز دبېرته نیولولپاره دنا ټوځواکونوهم دلاسپوڅي اردومرستې ته راودانګل خوهیڅ پرمختګ یې ونه شوکړای اوهرځل یې چې پرطالبانوګډه حمله دماتې سره مخامخ شویده، نو شکست خوړلي اوبزدلواشغالګروددې مسلسلوماتونه پس دمسلمانو اومجاهدو کندز زیانونه دانتقام اخستلوپه موخه بمبارونه پیل کړل او یدې لړکې داکتوبر په ۳یمې نېټې امریکایې ځواکونودبې پولې ډاکترانویه ټوم دنړیوالې اداري روغتون هم په ښه کړچې پکې دډاکترانویه شمول دروغتون ۱۲ کارکونکي او ۱۰مریضان مړه او۳۷ تېیان شول ؛ په وژل شویوکې ۳ کوچنیان هم شامل دي ؛ دروغتون ډاکترانو ویلي دي چې بمبارکې دمړو شویوتنانوغوښې شړېدلې ؛

شکلونه یې له پېژندګلوی وتې دي اوترلرې ساحو خلک په تنفس کولوکې دتکلیف سره مخامخ شویدي ؛دا ټولې ددې نښې نښانې دي چې په روغتون شوي بمبارکې امریکایانو کیمیاوي مواد کارولي دي؛ ډاکترانواودروغتون مسئولینوداهم ویلي دي چې موږدبمبارپه جریان کې دافغان دولت اوامریکایانوسره رابطه ټینګه کړه اوله دې موخبرکړل چې زموږپه روغتون بمبار روان دی نوباید ژرترژره بند شي خوهغوئ زموږپه خبره هیڅ غوږونه ګرولواوتر ۱۰۰دقیقویې بمبارجاري وساتلو .

دا دومره وحشتناک ظلم وچې دملګرو ملتونو اداري دبشردحقوقودکمېټې مشرزید رعدالحسن هم ار شوچې ووایې : دا داسې ناقابل معافي عمل دی چې دجنګي جرمونولاندې راتلای شي .

پرروغتون له حملې وروسته درې ځلې امریکا خپل بیان بدل کړ؛ په سرکې یې ویلي وواشتباه شویده ؛ بیایې وویل له دې روغتون نه پردوئ ډزې شوې وې نوځکه یې بمبارپرې وکړ؛ بیا دناټواوامریکایې ځواکونو لوی قوماندان جنرال کمبیل په واشنګټن کې یوې خبري غونډې ته وویل: دقندوز پر روغتون یې هوایې برید دافغان ځواکونوپه غوښتنه وروسته ترهغې ترسره کړچې وسلوالو له روغتون څخه پرافغان ځواکونوډزې کولې .

امریکایانوهرځل دروغ ویلي ونوځکه یې خبره بدلېږي رابدلېږي ؛امریکایانواوس پدې اړه خپله خطا منلې ده ؛ښنه یې هم غوښتی ده او وژل شویوتنانوته یې دځه پیسو ورکولوژمنه هم کړیده خوپوښتنه داده چې آیا یواځې په ښنې غوښتلو اودبې ګناه هروژل شوي تن په سرددوه درې زرډالروپه ورکولودادومره سترجنایت ښنل کېدای شي ؟

آیادبې ګناه افغانانووینه دومره سپکه ده چې داسې په اسانه دې هدر ولاړه شي ؟

آیاامریکا اونورلویدیځ خپلواتباعوته هم په همداسې نظرګوري لکه موږته چې په کوم نظرګوري ؟

که دکوم اسلامي هېواد مسلمان فوځ دامریکا یابل کوم غربي هېوادبې ګناه وګړي په داسې بې رحمۍ ووژني نویواځې دښنې په غوښتلوبه دوئ مسلمان فوځ وښنې ؟

دښنې غوښتل هم یواځې دافغانانودغصې کمولواودنړیوالوسترګوکې دخاورو اچولویوه ناکامه هڅه وي نه په رښتیا په خپلوبدوکړوپښېمانتیا وي اونه هم دخپلوبدو ارادو اوکړنونه اوږدونکي وي نوځکه دولسي وګړود قتل لړۍ نه تم کېږي؛ ددې پېښې نه ایله لس ورځې پس داکتوبر په ۱۳مې نېټې دلوګرولایت مرکزپُل علم پورې اړوندهوني سیدان سیمه کې چې دامریکایې ځواکونوټانک په بم الوزول شوی و لږساعت پس نورو راغلوامریکایې ځواکونو ناخبره خلک دخپلوکوچنیانوسره له کورو راوه ایستل اودزې یې پرې پیل کړې چې له املې یې ۴ تنان شهیدان او۱۵ټپیان شول

ددې پېښې لا یوه اوونۍ نه وه تېره شوې چې اوس داکتوبرپه ۱۸مې نېټې دهمدې لوګرولایت د خروار ولسوالۍ په تمورنومي سیمه کې چې طالبانو دلاسپوځې اداري ۱۶فوځیانوته دیوبرید په نتیجه کې مرګ ژوبله اړولې وه دلته اشغالګرودواده په مراسموبمبارکړی چې په نتیجه کې یې ۶ملکي وګړي په شهادت ورسېدل .

امریکا ته دکابل اداري پخوانی مشرحامد کرزي وفاداري هم له چاکمه نه وه خوهغه لږترلږه دولس دتپر ایستلوداهنر درلودلوچې دامریکایې اونورواشغالګرولې لوري دبمباریادشپنیووعملیاتواو تالاشیوپرمهال به چې دولسي- وګړو دمرګ ژوبلې پېښه رامنځته شوه نوپه ظاهره به یې دبهرنیانوپرضد غبرګون اوپه خوله خفګان بنکاره کاوه اوکله ناکله خوبه یې دمکرنه ډکې اوښکې هم توی کړې خووایه داشرف غني اوعبدالله چې دامریکاپه غلامی کې یې ټولې پولې ونړولې ؛دقندوز په روغتون دبمبار دادومره ستره غمیزه بیاورپسې په لوګرکې یو په بل پسې دخورا دردونکو پېښو رامنځته کېدل اود اخرس شیطان په خپر ددواړوچوپتیا ؟! داسې چوپتیا چې په درواغویې هم دخفګان اوخواشینی بنکاره کولو لپاره یوه جمله له خولو راونه ایستله بلکې اوباماچې خپله داوعده ماته کړه چې خپل ماته خوړلي عسکربه په ۲۰۱۶م کې له یوه سره له افغانستان نه باسي اواعلان یې وکړ چې د۲۰۱۷م ترپایه به په افغانستان کې امریکایې فوځونه پاتې وي نودکابل اداري مشر-اشرف غني په افغانستان کې دامریکایې فوځیانودپاتې کېدوپه اړه داوباما دپرېکړې تائید اوهرکلی وکړ اوپه ارګ کې یې امریکایې سناتورانو ته داوباما ددې پرېکړې مبارکي وویله .

دې پېښې که دامریکا وحشي-شکل اودکابل پرتخت دکېنول شویولاسپوڅو غلامې خپرې یوځل بیا نړۍ ته روښانه کړې نودغربي ولسونود بشردوستۍ اوانساني مساوات د دعوودرواغجنټوب یې هم یوځل بیا بنه واضحه کړ.

غربي ولسونه چې په خپلو هېوادونوکې ددولتي ځواکونوپه لاس دولسي- وګړودمرګ ژوبلې دیوې کوچنۍ پېښې په رامنځته کېدوتول ټول هېوادونه په سر را اخلي دامریکا ددې سترووحشت په مقابل کې چوپه خوله پاتې کېدل یې دبشریت سره لویه جفاده ؛که دوئ ربنستیا هم بشرپالي واي او ټولوانسانانو ته یې په یونظرکتلای نوپکارده چې ددې وحشت په مقابل کې یې خپل غبرګون بنکاره کړی اودخپلودولتونونه یې په کلکه غوښتي وای چې دافغانستان نه دې هغه فوځونه راویاسي کوم چې روغتونونه ،جنازې او ودونه بمبارويې اوپکې په لسګونو لسګونوولسي وګړي وژني .

که غربي ولسونوکې دحقپالنې بوی هم وي نوباید خپل هغه دولتي واکمنان دمحاکمې مېز ته راکاږي چې پرافغانستان یې دحملې پرېکړې کړې وې او یا یې په پټو سترګو پرافغانستان دیرغل لپاره جوړ شوي اتحاد کې خپل هېوادونه رابنکېل کړي ول.

دا ولسونه که دومره جرأت نشي کولای نو لږ تر لږه دخپلو دولتونو نه خودې دا غوښتنه وکړي چې نور دی، دې بې ګټې جنګ کې خپل فوځیان او په ملیاردونو ډالر نه ضایع کوي خپل فوځونه دې له افغانستان نه راویاسي او افغانان دې پرېږدي چې پر خپل هېوادهغه نظام پخپله نافذ کړي دکوم لپاره چې په سونو زرو افغانانو دسرونو قرباني ورکړیده.

که یې دا کار وکړ ځان ته به یې د وړو پوزه ایښي وي ګیني دپرژرېې دشرم نه ډکه تېښته هسې هم مقدره ده بیابه لاسونه مروړي خو وخت به ځنې تېروي.

عبید تنویر

له هیواده ولې

افغانان په تیښته دي؟

دروان کال په اوږدو کې په لکونو افغانان چې زیاتره یې ځوانان اولوستی قشر ـ تشکیلوي له افغانستان څخه تیښتي اوکډوالی ته او اوزیاتره یې غرب او اروپا ته دپناه اخیستلو په نیت څه رسیدلي، څه په لاره اوپه لکونو نور له افغانستان څخه دتیښتي اوورتګ په حال کې دی.

دکابل دشړیدلي اوشرمیدلي رژیم واکمن له اروپایانو اوپه خاص ډول له المان څخه غوښتنه کړي چې کډوال افغانان باید بیرته افغانستان ته ستانه کړي ، څکه ددوئ په خبره دغوځلکو اوځوانانوته دهیواد دبیاابادی په برخه کې اشد ضرورت او اړتیا لیدل کیږي !!

له شک پرته بهر اوبیا په خاص ډول غرب او اروپا ته دافغانانودکډوالی او پناه اخیستني رجحان چې اوس یې سخت قوت موندلای اوهره ورځ په زرهاو تنه افغانان له سختو کړاوو نو تیرولواوزغملو ورسته داروپایی هیوادونو پولوته داخلیږي، دافسوس اواندیښنې ورځبره ده ، څکه ډیری افغانان چې دپناه غوښتلو کوم دلایل اروپایانوته په ګوته کوي هغه له اسلامي ارزښتونو اوافغاني اقدارو سره په تکر کې دي، بحیثیت یو مسلمان او افغان ته په هیڅ یوه حالت کې هم نه ښایي چې غربت اوسیاسي ملحوضات دپناه اخیستلو لپاره ډال او سپر وګرځوي اوبالاخره له خپل هویته تیراو اسلامي عقیدې ته شا وګرځوي.

خودلته مهمه خبره داده چې ولې په دومره لوی تعداد اوشمیرې کې افغانان تیښتي اوفرار ته چمتوکیږي، په میاشتو میاشتو مزلونو، کړوانو تیروي اوترهغوچې هلته منل کیږي دژوند دانتهایی ترخو شپو اوشیبو تیرولو ته زړه نیسي ـ؛ علت یې هرچا ته لکه لمر ښکاره اواوبرالا دي ،

چې لوی لاس پکې دکابل دفاسد او نا اهله رژیم او جفاکارو چارواکو دی.

څکه له تیرو ۱۴ کلونو راهیسې- په تریلیونو ډالر افغانستان ته دشغل ، ابادی اوثبات په نومونوراغلل ، ددې پرځای چې دلته مصرف اوپه یادو برخو ولګیږي اودافغانانو دژوند رومبنیو ارتیاووته مثبت ځواب ووایي، داړه مارو واکمنو هغه چور، هضم اوپه غرب، امریکا اواسیایي هیوادو نوکې یې خپل بانکي خورجینونه او اکاوینټونه پرې تردوسپوږمو ډک او وخوتول.

له بل لوري خارجیانو دخپل ۱۴ کلن حضور اواشغال په اوږدو کې یوشمیر افغانان دخپلو قرار دادونو اوټیکوپه زریعه دډالرو معتادین وګرزول، چې کله هغه ټیکي او قرار دادونه پای ته ورسیدل، دډالرو بندلونه اوکاپی هم په هغوئ بندي او ودریدې، نو امریکایي ټیکداران اومامورین په دې فکر کې شول چې له یوې خوا ډالرنه وي اوله بل لوري پرې غل او چپاول گر رژیم واکمن وي ، اوله مفکر څخه یې رانیولي تر اجرایه مشر- اووزیرانو پورې هریویې بهرنی تابعیت په جیب کې ګرځوي؛ نو وړاندې تردې چې دوئ تري منډه اووتښتي، په دغې مسابقي کې باید دوئ مخته تک اوپیشرفت وکړي!!!!

دکابل مفکر او ډبل ډاکتر یې ، چې اوس له اروپا څخه دفراري او کډوالو افغانانو دبیرته راستنولو ترونونه له المان او نورو غربي هیوادونو سره لاسلیکوي او دهغوی راتګ دافغانستان دابادی لپاره مهم بولي په اول سر کې به یې په خپلې پوچې ککړې کې همدغه فکر سنجولی وو، شغل او مصروفیت به یې ورته پیداکړی وو، دحقوقو دتامین غم به یې ورته خوړلی وو او دغسي یو حالت ته به یې زمینه سازي نکوله چې افغانان په دومره لویه پیمانه کډه اوبار شي.

اوس چې دغوافغانانو خپل ټول شته، هست بود داروپا اوپناه په نیت خرڅ اوهغه یې دلارې دقاچاقبروګیدو ته وروغورځول اوپه عین حال کې مفکرخیل اوشریکان یې دکار اوشغل کوم تضمین هم نشي ورکولای، نوپه دغسي- یو حالت کې به کډوال په کوم باور او ډاډو بیرته راتګ ته زړه ښه کړي ، څکه هغوئ درک کړي چې که نن وي یا سبا د خائن او غدار رژیم کډه اوبستره به باریږي له دوي وړاندې به په غرب او امریکاکې دکوم هوټل نوکری ته کمپاین چلوي؟

دریمه برخه

لیکوال: م. شمس... منصور

دلیکنې او لیکوالۍ علمي آرونه اومعیارونه

دلیکنې عملي او مسلکي پړاونه

هر کله چې یوه لیکنه لیکل کېږي، له پیله تر پایه دڅو پړاونو څخه تېریږي،د یوې لیکنې معیاریتوب، کټورتوب او مقبولیت له هغو پړوانو څخه په بریمن ډول پورې وتوپورې اړه لري، دپوهانو په وینا: هغه پړاونه د عقلي ، فطري، اومنطقي ترتیب له مخې دادي:

۱ــ دلیکلو څخه وړاندې

۲ــ د لیکلو پرمهال.

۳ــ د لیکلو وروسته.

په لومړي پړاو (دلیکلوڅخه وړاندې) کې لیکوال له ځان سره دا پرېکړه کوي ▪چې (څه لیکي؟) په دوهم پړاو کې داطی کوي [څنګه یې ولیکي؟] په دریم کې دا ارزونه کوي چې (څنګه یې معیاري وګرځوي؟]

دا ځل مونږ ددغو پړاونو او مدارجو په اړه دلوستونکو سره عملي او مسلکي مشورې شریکوو:

د لیکلو څخه وړاندې:

لیکوال دلیکلو وړاندې اړدی، چې دوه کاره وکاندي: یو (دلیکنې لپاره د صنف غوره کولو) پریکړه وکړي چې دده لیکنه دمزاج اومذاق له پلوه کوم لیکنېز صنف ته طبعي رجحان اومیلان لري؟ څېړنېز معلوماتي مضامین او مقالې غوره بولي، که دورځپاڼې خبري کالم لیکل؟خبریالې ورته په زړپورې ده که مرکیالې او فیچر لیکل خوند ورکوي؟ بل [دموضوع غوره کولو] په اړه پریکړه وکړي، چې داړوند صنف له خورو ورو موادو او ګڼو موضوعاتو نه کومه موضوع دفطري رجحان او طبعې میلان له پلوه نیږدې محسوسوي؟ ددې دوه پرېکړو وروسته په عملي کار دلاس پوري کولو څخه وړاندې له دوه ذهني تمریناتو نه دتیریدو اړتیاده[سوچ کول او ذهني آماده ګي نیول] راځئ ددې دوه پریکړو او ذهني تمریناتو طریقه وپیژنو:

دوه مهمې پرېکړې

دلیکنې دصنف پریکړه:

انسان حیوان ناطق دی، چې دخپلو خیالاتو او جذباتو اظهار دلفظونو له لارې کوي[په خبرو؛ یا په لیکلو] دالفاظو له لارې داظهار صورتونه دوه دي، هغه چې دالفاظو په ترتیب کې یې وزن او هم آهنګې شتون ولري، ورته (نظم) ویل کېږي، او

هغه ته چې د الفاظو په ترتیب کې یې وزن، هم آهنګي او ردهم په څېر وصف ونلري [نثر] ویل کېږي، د[نثر] اصناف په دوه ډولونو ویشل کېږي:

۱ــ د نثر ادبي اصناف: چې پکې انشاء ـ مضمون ـ مقاله ـ ژوندلیکونه ـ خبرې اترې ـ ناول ـ افسانه ـ نقد ـ تحقیق اونور راځي.

۲ــ د نثر صحافتي اصناف: دې کې خبریالي ـ سرلیکنه ـ کالملیکل ـ فیچر لیکل ـ ژباړې کول او لنډیزونه راځي.

دنثر پورتني اصناف دخپل جوړښت، هیئت، اومسلک له پلوه سره جلا دي، هر صنف خپل ځانته ځانګړی جوړښت او هیئت لري، لیکوال چې په هر صنف کې لیکنه کوي دهغه په باره کې باید علم ولري، چې هغه دجوړښت، هیئت او مسلک څه دی؟ او کوم صنف دده د مقصد، اوموضوع سره فطري سمون لري؟ دکوم صنف له لارې خپل معلومات په ښه توګه وړاندې کولی شي؟ په دې لیکوال ته علم درلودل په دې وجه ضروري دی څو د هغه د جذباتو احساساتو او معلوماتو لیږد په جامع، مدلل اومؤثره ډول و ي، علماوو دهر صنف په باره کې په ښه تفصیل سره بحثونه لیکلي لوستونکي کولی شي له هغو څخه استفاده وکړي.

۲ــ ذهني اماده ګي:

له دې وروسته دوهم پړاو راځي،دهرې لیکنې دلیکلو څخه وړاندې ذهني اماده ګي نیول، په حقیقت کې د ښې لیکوالۍ ضمانت دی؛ که دلیکوال ذهن ګډوډ ،مصروف اوستړی و،یا په ذهن کې یې شکوک اوشبهات ولري، ددغه ډول ذهني حالت عکس به په لیکلو کې هم جوت و ي،ځکه دهر لیکوال لیکنه دهغه ددهن عکاس وي،په دې وجه دلیکوال لپاره دلیکلو وړاندې د ذهني ګډوډۍ، ابهام، شکوکو او ابهاماتو څخه ذهن وزکار ول پکاردي او پخپلو عزایمو ورته باور اویقین ساتل ضرور دی، څو لیکنه مؤثره، مدلله او واضحه بڼه ومومي ، په ګډ وډ ، ستړي او نا ارامه ذهن لیکل؛ لیکنه کډوډه او له تاثیره پریباسي، په ارام ذهن لیکل ؛ لیکنه نه یو اځي منظمه او راښکونکې وي بلکې پر لوستونکو باندې یې هم اغیز زیات وي، ممکن په پیل کې یولیکونکی ددار او اندیښنو ښکاروګرځي مثلاً[زه داکا ر نشم کولی!په ځان کې راته ددې صلاحیت نه ښکاري ، له ذهني پلوه کمزوری یم! زما په وس کې ندی ، داسې نور...] ددې ټولو اندیښنو په ښه غور ارزونه پکاړه، دالله تعالی مهربانی ته په پام دا یوه هم پرځای نده ، او بیا خصوصاً دداسې چا لپاره چې هغه ددین ته دخلکو رابللو او دعوت په څېر عظیم الشان مقصد لپاره یو کټور او ارښتمن فن د یادولو ارزو ولري ! ځکه ددین دعوتګر او بلونکي سره دالله تعالی مرسته ملګري ده، دغه ډول وسوسې او اندیښنې ورته یومخ له زړه نه ویستل پکاردي په ښه ډاډه زړه دي الله ته په رجوع او خلوص نیت سره قلم او کاغذ را واخلي...

دهر کار په پیل کې الله تعالی ته رجوع کولو ، په منځ کې له هغه نه ګام په ګام مرستې غوښتو ... او په پای کې شکر ویستو عادت درلودو کې دبري راز پټ دی.

لیکوال باید خپل عادت وګرځوي، چې دهرې لیکنې په پیل کې دخپل نیت صحت ته ځیر اووسي ، په منځ منځ کې دالله نه مرستې غوښتو... او په پای کې دشکر او استغفار نه غافل نشي، بیا ګوره! چې په لیکلو کې ورسره ځومره غیبي برکت او نصرت ملګری کېږي اوالله تعالی یې دستونزو اوخندونو پرمهال څه ډول مرسته کوي....

دوه ذهني تمرینات:

۱ــ سوچ اوتفکر:

په اصل کې لیکنه دهغه سوچ او تفکر دلفظي اظهار نوم دی، چې دقلموال ذهن له زخیرې په راوتو او دقلم له نوکې په پرېوتو دکاغذ پر مخ نقوش ترسیموي، لوړ مفکوروي الوت ،دنظر پراخیتا او ژورتیا هغه څه دي چې پربنسټ یې یوه لیکنه کې معلومات او نظریات وده کوي او قدرو قیمت یې یو په دوه کېږي، نو هرځومره چې دلیکوال په سوچ او فکر کې ژورتیا او اغېزمنتیا تومنه ډېره وه هغومره دفکري او نظري پلوه لیکنه معیاري ګڼلی کېږي ، په سوچ او تفکر سره دلیکنې مرکزي خیال او د مرستندویه خیالات یا دلایل اوشواهد مندل کېږي، نو په دې وجه په لاس کې دقلم نیولو او کاغذ را اخستو څخه وړاندې دغور ا وفکر له لارې دموضوع دمرکزي او معاونو اندونو تعینول ضروري دي، دلیکوال لپاره دتصور صلاحیت لرل زیات اهمیت لري ستاسو دتصور حدود چې هر ځومره پراخ اوژور وو هغومره به په لیکنه کې تنوع او ځواکمني پیدا کولی شئ! دتصور خوبې نه یواځې په تفریحي لیکنو کې مرسته ورکوي بلکې دتحقیقي مضامینو په لیکلو کې هم تري استفاده کېدای شي.

۲ــ د موضوع غوره کول:

دهر لیکوال لپاره دموضوع تلاش او لټون مهمه مرحله وي، ولې موضوع هغه یواځینی اساس دی چې ورباندې دلیکنې ودانۍ پورته او بیا ورته ښکلا اورنګ ورکول کېږي، اګرکه دنوي اوبې تجربې لیکوال لپاره ترټولو ستونزمنه مرحله دموضوع لټون او غوره کول دي، خو داکار چې ځومره ستونزمن ښکاري دومره اسان هم دی، لیکوال که دوه کاره پخپل وخت ترسره کړل ددې ستونزې نه په بري سره پورېوتی شي، اول: پټ نیت، لامل او مقاصد تعینول! دهغه وروسته دموضوع مندلو لپاره د ځلور وکلیدي چارو(مطالعه، مشاهده، مکالمه او سماع) سره ځان عادتول او بیا ځلور واړوته پخپلو ورځینو معمولاتو کې دپام وړ ځای ورکول ، چې په دې سره به نه یواځې ورته دموضوع غوره کول له ستونزو ډک کار نه وي بلکې دلیکنې یا کالم لیکلو لپاره دارېنو موادو او ارقامو دنه شتون له امله به هم سرګردان نه وي.

البته دنویو اوبې تجربې لیکوالو لپاره دموضوع غوره کولو څو طریقې راوړو، څو هغو ته په پام په سوچ او فکر کولو بې شمېره موضوعات وموميږ.

لومړی طریقه: یوه اسانه طریقه چې دموضوع په مندلو کې مرسته کولی شي داده چې لیکوال له خپل ځانه دا څو پوښتنې وکړي:

* مـاسره دکـومې موضـوع پـه اړه داسـې معلومـات شـته چـې هغـه زه بایـد لـه نـورو سره شریـک کـړم؟ د کـومې موضـوع سره خلـک زیاتـه علاقه لري؟ ایا زما په وړاندې کومه داسې پېښـه یـا حادثه پېښ شوې چې پرمـا یـې زیـات اغېـز کـړی وي؟ زه په دې واقعه کې کـوم شي ډېر متـاثرکړی یم چې هغه په نورو هم تاثیر کـولی شي؟ زه غـواړم چې خلکو ته یواځې معلومات ورسوم که هغوی تـه کوم ځانګړی تخیل، سوچ اوتصور هم ورکول غـواړم؟ کومـه بـا معنـی لیکنـه؛ لیکـل غـواړم کـه محضـې دتفریح لپاره دقلم نوکه دکاغذ پرسینه شوروم؟

ددې پوښتنو په ځوابـو کـې د هسـک او ټیـټ ژوند هر عنوان چې مخ ته راغی له هغه نه یـوه پـه زړپوري موضوع غوره کېدای شي.

دوهمـه طریقـه: کـه تاسـو خپـل شـاوخواته وګورئ، نودژوندانه بېلابېل اړخونه شته، په هغو کـې ځینې یې داسې دي چې ورسره یوځـوک لـه حـده زیـات تـړاو لـري، اوځینـي داسـې دي چـې ور سره ترڅه حده ځوک دلچسپي و لري، او ځینې داسې دي چې له سره د خوښولو پـه زمـره کـې نـه راځـي، فرض کړئ داځو موضوعات دي:ــ سیرت ــ تـاریخ ــ سیاست ــ تـاریخي اثـار ــ ساینسي ـ ټېکنـې ــ اقتصادیات ــ اجتماعي ژوند ــ اړواپوهنه ــ کلتـور ــ کورنۍ ــ خبري رسنۍ ــ نوي علوم ــ تصـوف ــ لوبې ــ اونور....

کله چې مونږ پـه پورتـه موضـوعاتو کـې غـور کوو نو پکې یوه نه؛ یـوه موضـوع خپـل ذهـن او زړه ته نیږدې حسوو، بیا که دهغې په هغه خوښ کـړي اړخ فکر وکړو، نو په دې به ځو ضمني پوښـتنې او شـقونه مـخ تـه راشي، دمثـال پـه ډول:[دمعـاصرې اسلامي نړۍ چارې !یا دقدیمه اثارو پـه اړه ځېړنـې] دیولیکوال لپاره غوره موضوعات دي، کلـه چـې پـه اړه یې هغه سـوچ کـوي نـو دواړو موضـوعاتو پـه اړه لاندې پوښتنې یې په وړاندې راځي:

*ـ داسلامي نړۍ حدود څه دي؟ او پکې کوم، کوم هېوادونه راځي؟ پـه دغـو هېوادونـو کـې کـوم، خوشال او کـوم بیرتـه پاتـه دي؟د خوشـالو هېـوادو وسایل څه دي؟ دپیرته هېوادو دبدحالۍ لاملونه څه دي؟ هغوی کله ازادې ترلاسه کړې؟ په هغوی دکوم نړیوال ځواک له یرغل شوی دی؟ او پـه مقابـل کـې یې کوم شخصـیت یـا ډلـې میړانـه ښـودلې؟ داسـې نور....

* تراوسـه دځـومره تـاریخي اثـارو ځېړنـې شوي؟ دهغو په نتیجه کـې کـوم انکشـافات مـخ تـه راغـلي؟ دتـاریخي پلـوه دهغـو اهمیـت او ضرورت ځومره دی؟ دشویو ځړیونـو ځخـه دپخـواني انسـان کـومې، کـومې لاسـته راوړنـې او کـومې کمـزورۍ ښکاره شوې؟ زمـونږ پـه هېـواد کـې پـه کومـو اثـارو ځېړنـې کېـږي؟ داځـه ډول ځېړنـې دي؟ د اثـارو دځېړلـو طریقـه ځـه ده؟ دهغـو وسـعت ځـومره دی؟په روانـو ځېړنـو ځـومره لګښـت راځـي؟ داسـې نورې پوښتنې پیدا کېدای شي او همدا پوښتنې پـه حقیقت کې د اصلي موضوع لپار ه خدوخال ټاکي.

نور بیا....

د مورچل دارالافتاء

آیا د دلګۍ مشر یا امیر په هره حیره کې اطاعت لازم دی؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب !که ماته دلګۍ مشر- یا امیر ووایې : چې دغه فلان سړی دیرغلګرو جاسوس دی ، اوس فلانۍ سیمي ته راغلی دی ، ورشئ اوختم یې کړئ انوموږ ته رواده چې وویې وژنو ؟ اوکه به موږ خپله تحقیق کوو ؟ اوخپل یقین یاظن غالب به ثابتوو ؟ اوبیابه یې قتل کوو ؟ سعید

الجواب حامدا ومصلیا وبعد: په ذکرشوي صورت کې که امیر یادلګۍ مشر- دیني عالم ، عادل ، اوتقوی دار وو، بیا یې اطاعت لازم دی ، البته خپل یقین یاظن غالب به هم دهغه مجرم په دغه جرم ثابتوي بیابه یې وژني .

لمافي الهداية ٥١\٤ وإذا قال القاضي قد قضيت على هذا بالرجم فارجمه أو بالقطع فاقطعه أو بالضرب فاضربه وسعك أن تفعل"

وعن محمد رحمه الله أنه رجع عن هذا وقال: لاتأخذ بقوله حتى تعاين الحجة، لأن قوله يحتمل الغلط والخطأ والتدارك غير ممكن،.... وجه ظاهر الرواية أنه أخبر عن أمر يملك إنشاءه فيقبل لخلوه عن التهمة، ولأن طاعة أولي الأمر واجبة، وفي تصديقه طاعة . وقال الإمام أبو منصور رحمه الله: إن كان عدلا عالما يقبل قوله لانعدام تهمة الخطإ والخيانة، وإن كان عدلا جاهلا يستفسر، فإن أحسن التفسير وجب تصديقه وإلا فلا، وإن كان جاهلا فاسقا أو عالما فاسقا لا يقبل إلا أن يعاين سبب الحكم لتهمة الخطإ والخيانة. ومثله في مجمع الانهر ٢٥٤\٣

وفي ردالمحتار ١١٠\٨ وقال محمد واذا امر الامير العسكر بشئ كان على العسكر ان يطيعوه الا ان يكون المامور به معصية.

دجګړي له ډګره ازاد، دکمین مجاهدین په غنیمت کې شریک ګڼل کیږي ؟

الاستفتاء : په یوه سیمه کې دمجاهدینوسیمه ایز امیر دبلي سیمي مجاهدینوته وویل چې تاسوهم راشئ اوپه ګډه به عملیات وکړو ،دجګړي په سیمه کې دغه دوهمي ډلي مجاهدینو کفاروته په څه مسافه [یوکلومتر] آخواکمین ونیوه ،اودسیمي مجاهدینوپه خپل ځای کې کمین ونیوه ،کله چې کافران اودهغوئ مزدوران سیمي ته راورسیدل، نولمړی ډلي مجاهدینوورباندي جګړه پیل کړه ،دڅه جګړي وروسته کفاروماته وخوړه اومجاهدینویوشمیروسایل په غنیمت ونیول، نواوس دغه دوهمه ډله مجاهدین چې دجګړي له ډګرڅخه څه لیري وو اوپه جګړه کې یې مستقیمه برخه نه ده اخستي، آیاپه دې غنیمت کې شریکان دي اوکنه؟.

الجواب حامداومصلیاوبعد:هودغه دوهمه ډله مجاهدین چې دلمړی ډلي امیرپه بلنه راغلي ،په غنیمت کې شریک دي ،که څه هم په جګړه کې حقیقة شریکان نه دي، مګرحکماشریک بلل

کیږي .لکه پیغمبرصلی الله علیه وسلم چې په(جبل الرماة)کې څه کسان کښینول ،علماوولیکلي: چې هغه مجاهدین سره له دي ،چې دجګړې له دګرځخه لیري اوآزاد وو، خوبیاهم په غنیمت کې شریکان وو.

ولواجلس الامیربعض المجاهدین فی موضع یحفظ الطریق اولغرض آخرمن اغراض الجهادفهم شرکاء للذین یباشرون الجهادوان کان الامیرامرهم بالکینونة علی سورها لیمنعوا العدومن الدخول المدینة ان هزموا المسلمین ونهاهم ان یعینوا المسلمین بشئ فهم شرکاء في الغنیمة ایضا لانهم ممن شهدوا الوقعة واشتغلوا لمافیه قوة المسلمین وهوفراغ قلوبهم من ان یظفرالعدوبمدینتهم والاصل ماروي عن النبي صلی الله علیه وسلم انه امرالرماة یوم احدان یبرحوا مراکزهم ولاشک انهم کانوا من جملة من شهدواالوقعة شرکاء في المصاب ان لواصابوا الغنائم الخ السیرالکبیر ۹۱۸\۳ وص\۹۱۷ وایضا فیه ۹۲۵\۳ولوکان بعض المجاهدین في المعسکر وآخرون في المقاتلة فلوکان المعسکربمسافة لواشتغلوا بهم امکنهم ان یغیثوهم فیکون کالردء لهم والافلا لان في دارالاسلام الاستحقاق بشهودالوقعة فیعتبر في حق من یستحق ومایستحق به شهودالوقعة بالحضورحقیقة اوبانکان بالقرب منه حکما علی وجه لواستغاثوابهم امکنهم ان یغیثوهم فیکونون کالردء لهم فمااذا انعدم ذلک لم یکونوا من جملة من شهدالواقعة الخ السیرالکبیر ۹۲۰\۳ . ومثله في المحیط البرهاني ۵۳۵\۵ .والله تعالی اعلم

هغه مجاهد چې مسبحه کوته یې قطع شوي نو..؟

الاستفتاء: محترم مفتي صاحب ! دیوه مجاهد دښې لاس مسبحه اومینځنۍ ګوتي کاټ شوي دي، نو په لمانځه کې به په تشهد کې اشاره څرنګه کوي؟ آیا په نورو ګوتو اشاره کولای شي اوکنه ؟ خادم احمد

الجواب حامدا ومصلیا وبعد: په ذکرشوي صورت کې په نورو ګوتو اشاره نه ده مشروع، لهذا له دغه مجاهد څخه اشاره ساقطه ده ، همداراز هغه تن چې مسبحه ګوته یې خوږه وي اواشاره نشي ورباندي کولای، نو اشاره دي په بله ګوته سره نه کوي.

کمافي الطحطاوي علی مراقي الفلاح ص\۲۶۹ لایشیر بغیر المسبحة حتی لوکانت مقطوعة اوعلیلة لم یشر بغیرها من اصابع الیدالیمنی ولاالیسری.

ومثلها في الفقه علی المذاهب الاربعة ۲۴۸\۱-

ومثله في الفقه الحنفي في ثوبه الجدید ۲۲۶\۱

دشهید یتیمانو ته زکات صحیح کیږي ؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب ! زما دکاکازوی شهید شو ، واړه ماشومان یې پاتې دي ، مایوه ورخ دغه ماشومانو ته بوټونه اوجامي ورواخستي اونیت مي دزکات په کي کړی و، نو زکات مي صحیح کیږي اوکنه ؟ عبدالله

الجواب حامدا ومصلیا وبعد : هو په ذکرشوي صورت کې زکات صحیح کیږي ،

في المحیط ۲۱۵\۳ اذا کان یعول یتیما فجعل یکسوه، ویطعمه ویجعل مایکسوه ویاکل عنده من زکوة ماله فالکسوة لاشک انه یجوز لوجود الرکن وهوالتملیک .

ومثله في البحر ۳۵۳\۲

وکذافي الطحطاوي ص\۷۱۴

دوه‌ویشتمه‌برخه

مفتي ابومحمد (حقاني)

د جهاد فقهي مسایل

جهاد کې محرمات او مکروهات

دښمن ته یوځې کلاګانو(بالاحصار) کې مورچل نیول!

دې ته په فقهي اصطلاح کې (تحصن) وایي ،یعني سیمې ،کلي یا ښار ته چې کله دښمن ننوځي او مجاهدین ددوئ ځخه دځانونو دژغوریدا په خاطر لوړواو دنګو پوځي کلاګانو ته وخیژي او هلته ورته مورچل ونیسي ،همدې ته تحصن وایي ،مخکې وختونوکې به دا سې کلاګاني یاحصارونه حکومتونو جوړول ،چې هغې ته به یې بالاحصار وایه ،نن سبا هم قدیمي بالاحصارونه دکابل په ځیر نورو ولایتونو او سیمه ایزو هیوادونو کې شته ،نودشوافعورح او حنابله وو رح فقهاووله نظره (چې دې نظر سره دچا اختلاف نشته)که دښمن حمله وکړي او ښار ته راننوځي، نو مجاهدینو ته جایز ده، چې خپلو لوړو او دنګو پوځي کلاګانو کې ځانونه محفوظ کړي او دا چاره مجاهدینو ته روا هم ده .

لکه په ((الموسوعة الفقهية ج ۱۱ ص۲۲۰)کې چې لیکي : التّحصّن من الكفّار المحاربين - إن جاءوا لقتال المسلمين - جائز شرعاً ، سواء أكان المسلمون في الحصن أقلّ من نصف الكفّار أو أكثر ، وذلك ليلحقهم مدد وقوّة من بلاد المسلمين المجاورة ليشدّوا أزرهم ، فيكثر عددهم ويخشاهم عدوّهم ، ولا يلحق المسلمين بتحصّنهم إثم الفرار من الزّحف...} ژ:تحصن یا په بالاحصار کې له محاربو کفارو ځخه چې دمسلمانانو خلاف قتال ته راغلي وي ،سنګرنیول او ددوئ پر خلاف له بالاحصار ځخه جګړي ته ادامه ورکول، یو جایز کار دی او کوم حرج شرعي پکې نشته ،عام ددې نه چې په پوځي کلا یا بالاحصار کې دجمع شویو مجاهدینو شمیر دکفارو له شمیر نه کم وي که زیات او ادديې لپاره چې دګاونډی اسلامي مناطقو ځخه دمسلمانانو مرسته ورته راشي او ددوئ ملا پرې مضبوطه شي، نو تعداد به یې ډیر شي او دښمن به تړې وډار شي ،اودا تحصن یا پوځي کلاګانو کې ددښمن دناڅاپي یرغل له ویرې ځانونه مخفي

کول دفرار من الزحف دگناه په ارتکاب کې هم نه راځي ،داځکه چې (فرارمن الزحف) ددښمن سره له مخامخ کیدو نه وروسته پداسې مهال کې صورت مومي ،چې غیر متحرف لقتال او غیر متحیزا الی فئة وي او دلته تر اوسه ددښمن سره مجاهدین ندي مخ شوي ،نو فرارځنګه متصور شو، که چیرته مسلمانان له کفارو سره له پوځي چوڼیو نه بهرمخامخ شول،نو دوئ ته دا هم موسع ده، چې جنګي کلاګانو ته ورته وخیژي ،ځکه دا په منزله دتحرف للقتال او تحیزالی فئة دی او ددې په جواز کې دڅا خلاف نشته ،او که محارب کفار دمسلمانانو سیمو کې دیره وو ،خو دجګړې نیت یې نه درلود، نو بیا مسلمانانو ته اړتیا ده، چې دپوځي کلاګانو او چوڼیو په استحکام او قوت کې له احتیاطه کار واخلي .

په الموسوعة کې بیا لیکي :چې داهم مسلمانانو ته جایز ده، چې خندقونو کې دښمن ته کمین ونیسي .لکه څنګه چې همدا کار رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دخندق په غزوه کې هغه وخت وکړ،چې احزاب دده دجګړې لپاره له مدینې منورې نه راڅاپیره شول او همدې ته دالله تعالی دې قول کې اشاره شوي چې : { يا أيّها الّذين آمَنُوا اذْكُروا نعمةَ الله عليكم إذْ جاءَتْكم جنودٌ فأَرْسَلنا عليهم ريحاً وجُنُوداً لم تَرَوْها ، وكان الله بما تعملون بصيراً . إذْ جاءوكم مِنْ فوقِكم ومِنْ أسفلَ منكم وإذْ زَاغَتِ الأبصارُ وبلغتِ القلوبُ الحناجِرَ وتَظُنّونَ بالله الظّنُونَا { سورة الأحزاب }.

دپوځي کلاګانواو خندقونو په شان مجاهدین دکفارودهرډول خطراتو څخه دژغونې هره وسیله، چې دکفارو دناڅاپي بریدد او یرغل نه پرې ځانونه بچ کولای شي ،جایز او روا ده، البته دمجاهدینو دمصؤنیت دا وسایل او ذرایع دهرې زماني او هر عصر- دایجابیاتو سره سم برابریږي اودا روا دی .

که چیرته دمجاهدینو (دواب)آسونه ،اوښان او نور حیوانات (چې نن سبا یې ځای پوځي عرداجاتونیولی) له منځه لاړل ،نو دا دمجاهدینو لپاره دفرار عذر نشي ګرځیدلای، دا ځکه چې جګړه پیاده یا پلې هم شوني ده ،همداسې که مجاهدینو کوم ځای کې ورته سنګر ونیوه، چې له هغه ځایه یې ورسره پلې جګړه کوله، نو هم رواده او که چیرته د مجاهدینو وسله له مینځه لاړه او دوئ داسې یو ځای کې ورته تحیز وکړ،چې هغه ځای کې یې ورسره په تیږو یا کانو جګړه کولای شوه او خپل ځانونه یې دونو شاګانو ته پټولای شول نو هم رواده . حواله (الموسوعة الفقهية ۱۱ او ۱۷ جلدونه).

نامتو مسلمان فاتحین

شپږمه برخه

د اسلام لومړنی استازی او د قرانکریم لومړنی استاد

حضرت مصعب بن عمیر رضي الله عنه

د (بدر) او (احد) غزا ګانو کې داسلام دتوغ ساتونکی

دوهمه برخه

[۷] : مدینه منورې ته هجرت

حضرت مصعب چې دعقبې له دوهم بیعت وروسته په مکه کې پاتې شو او بیاچې دهجرت اجازه وشوه نو د بخاري شریف له روایت سره سم حضرت براء رضی الله عنه وایي چې : لومړنی سړی چې مدینې منورې ته راغی، هغه حضرت مصعب رضی الله عنه اوبیا عبدالله ابن ام مکتوم رضی الله عنه بیا عمَّارُ بْنُ یَاسِرٍ اوَ بِلاَلٌ رضی الله عنهم دوی راغلل او له دوی وروسته بیانور صحابه رضی الله عنه راغلل او دوی دواړو به دیر ښه قرانکریم خلکو ته لوست.

[۸] : دبدر او احد په ستړو حزاګانوکې ګډون .

له هجرت وروسته هم نومورې دقرانکریم دتدریس پرې نه ښود، خوددې ترڅنګ یې دبدر په ستره غزاکې یې هم ګډون وکړ اوداغزا چې دهجرت په دویم کال دروژې میاشتې کې پیښه شوې وه، په دې غزا کې د اسلام توغ نومورې ته سپارل شوی و اونومورې به په دیره مینه ور،د احد غزا چې دهجرت د دریم دورکې اختر (شوال)په میاشت کې پیښه شوې وه ، هم دغه ویاړ دده په برخه و اوداسلام توغ بیاهم له ده سره و .

[۹] : دحضرت مصعب رضی الله عنه دردونکی شهادت.

د احد په غزاکې که څه هم مسلمانان له ستر ازمایښت سره مخ شول او دیر مسلمانان شهیدان شول ؛ خوحضرت مصعب رضی الله عنه به داسلام توغ په دیره مینه په لاس کې نیولی و او د مرګ تروروستی سلګې پورې یې هغه غورځیدو ته پرې نه ښود، او ویل به یې چې زه به بیرغ غورځیدونه پرېږدم ، په یوه لاس کې یې توره چلوله او په بل لاس کې یې داسلام توغ نیولی و اوپه پوره میرانه به یې پر کفارانو بریدونه کول ،

په همدې وخت دمشرکانو پوپیاوړی ځوان ابن قمه ورباندې دتوری ګوزار وکړ، چې ښی لاس یې په مټ کې پرې شو ،ده سمدلاسه بیرغ په کین لاس کې ونیو، کله یې چې کین لاس هم ترې غوځ کړ ، ده بیرغ په سینه پورې ټینګ ونیو ،دغه ظالم بیاهم ونه ښایه اوپه دریم ګوزار مخامخ په سینه کې په نیزه وواهه چې ورسره دغه نازولی ځوان شهید شو.

[۱۰] : دحضرت مصعب پرتوتې توتې بدن دپیغمبرصلی الله علیه وسلم بېساړې اوښکې

کله چې جنګ سوړ شو اوپیغمبرصلی الله علیه وسلم دشهیدانو جسدونه راتولو ل، نوپردې مهال یې دپیغمبرصلی الله علیه وسلم مبارکې سترګې پرهمدې نازولي ځوان ولګیدې، چې په خپلووینو لت پت پروت

اوپرې شوې اندامونه يې هم ورسره پراته دي، نوبې اختياره يې له سترګواوښکې روانې شوې اودغه آيت يې تلاوت کړ (آيت کريمه ندی ذکر شوی له قاسمي صيب نه يې وغواړه).

بيايي حضرت مصعب ته کړل:

په ټوله مکه کې ستاپه څېر ښکلې خوانې هېڅا نه لرله ، اونه يې ستاپه څېر ښکلي کالي لرل ،نونن دې په داسې حالت کې وينم ،په وښتانودې دوړې ناستې او يواځې اوس يوځادر لرې ،زه شاهدي وايم، چې دقيامت په ورځ به دې الله پاک خپل ديدار ته ور غواړي)).

[۱۱] : دمکې نازولی خوان يې کفنه د خاورو ژوه ته درومي!

لـه هغـه وروسـته پيغمبرصـلی الله عليـه وسـلم لارښوونه وکړه، چې کفن ورکړئ . خـوده اوس د کفـن لـه پاره له همدی وړوکي څادر پرتـه بل څـه نـه لـرل ، هغـه دومره لنډ و، چې پښې به يې پرې پټې کـړې ؛ نـو سر بـه يې ښکار شو او که به يې سر پرې پټ کړ ؛ نو پښې به يې ښکاره شوې ، په پای کې يې لارښوونه ورته وکړه ،چې سر په څادر ورپټ کړئ اوپه پښو سرګړي ورواچـوئ اوبيـايي خاورو ته وسپارئ . رضی الله عنه .

دده دغه دبی کسې په حالت به صحابه رضـی الله عـنهم دمـرګ تروختـه پـورې خوريـدل اوپـه دې لړکـې دبخاري شريف په روايت [شمېره : ۱۲۷٤]کې دحضرت عبـدالرحمن بـن عـوف رضـی الله عنـه لـه خـولې څخـه راويت نقل کوي ،چې يـوه ورځ حضرت عبـدالرحمن بـن عوف رضی الله عنه ته ډوډی راوړل شوه، نوموړي وويـل: حضرت مصـعب بـن عمـير شـهيد شـو اوهغـه ترمانبـه و اونوموړي دکفن له پاره څه شئ ونه موندل، يوازې وړکـی لنګ و .... زه ويرېږم، هسې نه داسې شي ،چې مـوږ تـه زموږ دخپلو خواريو اجـر پـه دنيـا کـې راکـړل شـوی وي اوبيا له ژړا شين شو .

دغه راز د بخاري شريف (شمېره : ۱۲۷٦ -)روايـت دی ،چې حضرت خباب رضـی الله عنـه وويـل : مـوږ لـه پيغمبرصلی الله عليه وسلم سره هجرت يـوازې دالله پـاک د خوښي ترلاسـه کولـو پـه پـار کـړی و او زمـوږ اجـر پـه خدای پاک باندې پـور دی اوپـه مـوږ کـې ځينـي خلـک داسې هم وو، چې دخپل اجر هېڅ خوند يې په دنيـا کـې په سترګو ونه ليده، په هغـوکې يـوهم حضرت مصـعب بـن عمير و ... هغه غريب داحد په ورځ په داسې حـال کـې شهيد شو ، اوموږ دومره څه نه لرل چې هغه تـه مـو کفـن تړې جوړ کړی و ،که به مو سر پرې پټـاوه ،پښې بـه يـې ښکاريدلې اوکه به موپښې ورپټولې، سر به يې ښکاره شو. بياپيغمرصلی الله عليه وسلم داسې لارښوونه وکړه : سريې په کفن کې ورپټ کړئ اوپه پښو باندې سر ګړي واچوئ.

داسلام په لاره کې دايوه پيښه ،ديوه صحابي رضـی الله عنه دقربانيو يوه بيلګه وه، چې تاسو ولوستله، که څه هم نوموړي داسـلام پـه لاره کـې هرځـه لـه لاسـه ورکـړل، خوبيـاهم نـاهيلي نـه و، بلکـې وربانـدې ويـاړل يـې اودغوستونزو اوکړاوونو دنوموړي عزم اوهمت ته هـېڅ راز زيان ونه رساوه .

دده په څېر نورو صحابه وو رضی الله عنهم هـم بـې شمېره سرښندنې او قرباني داسلام پـه لاره کـې ورکـړې ، چې په راتلونکو ګڼو کې به يې دژوند پښې له تاسو سره شريکې کړو ، دا داسلام په لاره کې د همـدي خواريـو او کړاوونو او اخلاص برکت و ،چې د اسلام لمر نيمايـي نـړۍ ته ورسېده ، ځکه دوی قرباني يـوازې او يـوازې ددې لـه پاره ورکـړې، چـې داسلام لمنـه پراخـه شي او دراتلونکـو

نسلونو نېمکرغي په برخه شي، که څه هم دوی زمونږ له پاره په خپل ژوند کې ډیر څه وکړل او له ډیرو شتو تېر شول ، اوس باید مونږ هم په خپل وار سره ددوی دهمدې ښېګڼې په مقابل کې له دوی سره مینه وساتو، په زړه کې دوی ټولو ته ځای ورکړو، باید له نژدې یې هریو وپیژنو ، خپل نوې نسل ته یې هم ورپیژنو ، او د دوی له قربانیوېې خبر کړو او د دې هڅه وکړو، چې الله پاک دې زمونږ په زړونو کې هم د هغوی په څېر اخلاص ، خداپاري ، اوپه دې لاره کې د ایثار او قرباني ولوله را پیدا کړي.

اخبست څایونه:

لومړی : رجال حول الرسول دخالد محمد خالد لیکنه مخونه ۳۱- ۳۴۱د درالفکر بیروت چاپ.

دوه : سیر الصحابه : دوهم ټوک مخونه : ۳۷۵نه تر ۳۸۴پورې ، دشاه معین الدین ندوي لیکنه اداره اسلامیات لاهور چاپ

دری: حقپالونکي .دمولانا قیام الدین کشاف لیکنه.

څلور: دامام ذهبي رح سیر اعلام النبلاء : دوهم ټوک ۵۷۱.

پنځه : دامام ابن معین التاریخ: ۳۴۹،

اوم : دنامتو خلیفه رح :طبقات خلیفة: ۱۱، ۱۷٤.

اته: دامام ابن اثیر رح :أسد الغابة: ۳ / ٤٥٤.

نهه:دامام مزي رح تهذیب الکمال: ۷۹۳.

لس: دامام ذهبي رح تاریخ الاسلام: ۲ / ۲۳۱.

یولس :دحافظ ابن حجر رح تهذیب التهذیب: ٦ / ۱۹۱ـ ۱۹۰.

دولس:الاصابة: ٦ / ۲۸٤. دحافظ ابن حجر رح لیکنه.

آیا دشهیدانو خښول دامانت په ډول روادي ؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب یوه ډیره اړینه پوښتنه لرواوهغه داچې ډیرخلګ داسې دي چې شهیدان یانور مړي امانة خښوي بیا چې یې قربیان پیداشي نو له قبرونوڅخه کاږي اوخپل وطن ته یې وړي. نوپوښتنه داده چې آیا شرعا دشهیدانو یانورو مړو خښول دامانة په ډول سره روادي اوکنه ؟

الجواب حامدا ومصلیا وبعد: علامه شیخ عبدالعلي رحمه الله دهدایة شرح البدایة ۱٦۵۱۱ په حاشیه کې لیکلي: چې دغه عمل نه اصل لري اونه شرعا روادی. البته داخبره دفقهي ټرډي ټولوکتابونولیکلي ده چې کله مړی خښ شي نوبیا بیرته له هغه ځایه ښکل اوبل ځای ته انتقالول مکروه تحریمي دي.

یقول: وامادفن المیت امانة ثم نقله الی موضع آخر فلااصل له ، ولایجوز، قال ابن الهمام صاحب فتح القدیر: اتفقت کلمة مشائخنا في امرأة دفن ابنها وهي غائبة في غیربلدها فلم تصبر وارادت نقله علی انه لایسعها ذلک ، فتجویز شواذبعض المتاخرین لایلتفت الیه ، واما نقل یعقوب ویوسف علی نبینا وعلیهم السلام من مصر الی الشام لیکونا مع اباائهما الکرام فهوشرع من قبلنا ولم یتوفر فیه شروط کونه شرعا لنا ، وتمام البیان في فتح القدیر وفي ردالمحتار ۶۰۲۱۳ وفي البزازیة: ونقل المیت من بلدالی بلد آخر قبل الدفن لایکره ، وبعده یحرم الخ ... والله تعالی اعلم

تونی بلیر

حبیب سعفانی

از سگ خانگی جورج بش

تا معذرت خواهی

تونی بلیر، سیاستمدار بریتانوی که از سنه ۱۹۹۷ م تا ۲۰۰۷ م برای ده سال صدر اعظم بریتانیا بود نقش ویژه در جنگ های افغانستان و عراق داشت، تونی بلر از آن عده چهره های قدرتمند غرب بود که همواره در برابر پالیسی های تندروانه و اسلام ستیزانه جورج بش "صدقنا و آمنا" می گفتند، علی الخصوص در موضوع اعزام نیروها به افغانستان و عراق هیچگاه ثابت نشده است که تونی بلر (بریتانیا) جان هوارد (استریلیا) و جین کیرتین (کانادا) در هنگامیکه از کشورهای خود نمایندگی می کردند حد اقل جزوی ترین اختلاف را به نمایش گذاشته باشند، از همین بود که ایشان به صفت بلی گویان و چاپلوسان جورج بش شهرت یافتند، خصوصا تونی بلر در رسانه های غربی به لقب پودل یعنی سگ خانگی بش یاد می شد، البته روشن نیست که این بلی گوی و چاپلوسی از ترس امریکا بود و یا هم از روی هدف یگانه که جهان مسیحیت داشت یعنی پیروزی در جنگ صلیبی بر ضد مسلمان ها، ممکن هر دو دلیل واقعیت داشته باشد-

حالا که بیش از دوازده سال از یورش امریکا و همنوایانش بر عراق گذشته است و درین مدت بیش از یک ملیون مسلمان عراقی طعمه آتش گلوله و بارود شدند تونی بلر در مصاحبه که با فرید زکریا برای شبکه سی ان ان داشت چنین عذر خواهی نموده است؛ خاطر اشتباهاتی که در جنگ عراق داشتم و بر اساس اطلاعات غلط تصمیم به حمله به این کشور گرفتیم معذرت خواهی می کنم- باید دانست فرید زکریا امریکای هندوستانی الاصل و از اساتید مسائل سیاست خارجی در امریکا است، وی حالا تصمیم دارد یک فلم مستند (داکومنتری) برای شبکه سی ان ان به نام (امریکا در عراق، سفر دراز به سوی دوزخ) بسازد، مصاحبه فوق الذکر نیز جزو این فلم خواهد بود، فرید می پرسد که سلاح کیمیاوی که سبب کشتار عامه شود هرگز از نزد صدام حسین یافت نشد پس آیا این جنگ اشتباه نبود، تونی بلر در پاسخ می گوید؛ من برای این حقیقت معذرت می خواهم که معلومات که برای ما داده شد نا درست بود و نیز عذر خواهی می کنم که در سنجش پلان نیز خطا صورت گرفت و نیز ما نتوانستیم درک کنیم که بعد از برکنار ساختن رژیم صدام حسین وضعیت چگونه خواهد شد-

حالا یک سوال اینست، اگر فاجعه عراق و افغانستان در یک کشور مسیحی رخ می داد و عوض جورج بش، تونی بلیر و جان هوارد یک مسلمان سبب قتل یک ملیون انسان مسیحی می شد با چه عکس العمل مواجه می شد، می توانیم با بررسی قضیه یک کشور افریقای که سودان نام دارد پاسخ این سوال را بسیار به آسانی دریافت کنیم، سودان تا

سال دو هزار و یازده میلادی بزرگترین کشور افریقا و نیز بزرگترین کشور عربی بود ، این کشور بیش از سی و شش ملیون نفوس داشت که حدود هشتاد در صد آن را مسلمان ها تشکیل می دادند ، در بخش جنوبی این کشور اقلیت های مسیحی که حدود پنج ملیون نفوس داشتند زندگی می کردند ، تنش های مذهبی و قومی در سودان باعث کشته شدن بیش از یک ملیون انسان در طی پنج دهه گردید ، عمرالبشیر (رییس جمهور کنونی سودان) در سال ۲۰۰۴ با امضای موافقت نامه‌ای به جنگ داخلی بین جنوب و شمال سودان پایان داد و برای اقلیت های سودان جنوبی اجازه داده شد توسط یک همه پرسی (ریفریندم) فیصله کنند که با سودان می باشند و یا اینکه کشور مستقل می خواهند ، در سال دو هزار و یازده میلادی همه پرسی برگذار شد و مسیحیان به حق یک کشور مستقل رای دادند و در همین سال کشور سودان جنوبی از بطن سودان متولد شد ، حالا سودان نه بزرگترین کشور افریقا است و نه هم بزرگترین کشور عربی (اینکه جهان غرب در تجزیه و تقسیم سودان چه نقش داشت موضوع جداگانه است و خیلی ها عبرت دهنده نیز است) ، عمرالبشیر با وصف که نه یگانه عامل خانه جنگی سودان است و نه هم قاتل یک ملیون انسان ، بلکه این خانه جنگی پنجاه سال ادامه داشت و از هر طرف کشتار صورت گرفت و لیکن جهان غرب هرگز عمرالبشیر را عفو نکرده است ، حتی عمرالبشیر به دلیل اینکه دادگاه عالی بین المللی حکم گرفتاری وی را صادر کرده است نمی تواند به کشورهای غربی سفر بکند و این نخستین بار بود که رییس جمهور بر حال یک کشور با این نوع فیصله دچار گردد ، اگر عادلانه قضاوت کنیم اصلا مقایسه ی عمرالبشیر با جورج بش و تونی بلر یک نوع اهانت بزرگ در حق عمرالبشیر است و لیکن عمرالبشیر یک گناهی دیگری دارد که رهبران غربی یقینا ندارند ، بلی ، عمرالبشیر نام اسلامی دارد و از اسلام حرف می زند -

حالا که تونی بلیر به زبان خود در برابر کامره های تلویزیونی به خطاء خود اعتراف نموده است آیا تونی بلر در پرونده ء قتل یک ملیون انسان مجازات خواهد شد ، هرگز نه ..... آخر چرا ؟ زیرا که در جهان مسیحیت هنوز تروریست پیدا نشده است و نخواهد شد ، این گفته من و تو نیست بلکه دادگاه های غربی این ادعا را در عرصه ء عمل ثابت کرده است ، آیا تا هنوز شما هیچگاه مشاهده کرده اید که یک رهبر یا عسکر مسیحی به عنوان تروریست از سوی دادگاه های غربی استحضار شده باشد ، هرگز نه ..... لهذا تونی بلر از سوی دادگاه های غربی هیچگاه تروریست نیست ، باقی ماند دادگاه های افغانستان و عراق ، آیا قاضیان که درین دو کشور بر منصب قضاء نشسته اند ثمره ء زحمت های تونی بلر نیست ، آیا ایشان این قدر بی مروت و ناسپاس گذار اند که مربی و محسن خود را محاکمه کنند ، فرض کنیم اگر ایشان تونی بلر را برای محاکمه طلب بکنند آیا تونی بلر حاضر میشود ، آیا تا هنوز آن صحنه در یاد داشت ما محفوظ نیست که یک عسکر امریکای در قندهار هفتده تن اعضاء یک خانواده را به شهادت می رساند و تا اینکه قاضی صاحب خبر میشود به امریکا می رسد ، پس چگونه تصور کنیم که تونی بلر برای محاکمه به نزد قاضی صاحب در کابل یا بغداد تشریف می آورد -

این اعتراف در واقعیت در فائده ئ تونی بلر است ، زیرا این شخص حالا از سوی دانشگاه ها ، مؤسسه ها و سازمان ها دعوت می شود تا درباره ء چگونگی وقوع جنگ عراق و افغانستان برای یک ساعت و دو ساعت لیکچر بدهد ، هر لیکچر یک صد هزار تا دو صد هزار دالر نرخ خواهد داشت -

ابوظهير

د اسلام غزوات او سرايا

د عبدالله بن انيس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سريه

د رجيع واقعه د حضرت عاصم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت

حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دمحرم تيريدو پوري بندي و، دحارث لور زينب وايي:

مارأيت اسيراً قطّ خيراً من خُبَيب لَقد رأيته يأكُلُ مِن قِطعَةِ عِنَبٍ وماَ بِمكة يَو مئذٍ ثَمرةٌ وانه لَمُوثَقٌ فِي الحَديدِ وَمَا كَانَ اِلَّا رِزقَهُ الله.

ما له خبيب پرته بل بندي غوره ندى ليدلى، ماكتل په هغه موسم كې به يې هم دانګورو وړي(وښكالي) خوړل،چې په مكه كې به دميوو نوم و نښان هم نه و، په داسې حال كې چې داوسپنې په څنيرو ترل شوى و ، بيرون ته نشو وتلى، هوا دا روزي هغه ته دالله جَلَّ جَلَالُهُ لخوا استول كېده.

د محرم له تيريدو وروسته كله چې خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د وژلو لپاره د تنعيم نه بيرون ويوړل شو، وي فرمايل:

ما ته د دوه ركعته لمانځه وخت راكړئ!

هغوى وخت وركړ، د دوه ركعته لمونځ وروسته يې وويل: ما لمونځ په دې وجه اوږد نكړ، څو تاسې دا ګومان ونكړئ! چې زه له مرګه ډاريږم! بيا لاسونه يې پورته كړل او دا دعائې ووغوښته:

اللّهُمَ أحصهم عَدداً وَاقتُلهُم بَدَاً وَلا تُبقِ مِنهُم أحداً.

ژ:يا الله!دوى يو، يو ووژنه څو هيڅوک ترې پاته نشي.

بيا يې دا شعر ووايه:

مَا إن أبالِي حين أقتَلُ مُسلِما

على أيِّ شَقٍ كَان لِله مَصرَعِي

راته هيڅ پروا نه راځي، چې زه مسلمان مرم،په هر اړخ كه مرم خو چې خالص دالله لپاره ور غرم.

وذلک فِي ذاتِ الإلهِ وإن يشأ

يُبارِک عَلى أوصَالِ شِلوٍ مُمزَقِ

او دا خاص دالله لپاره كه هغه وغواړي زما دتن په توټه توټه شويو جوړونو بركتونه لېږلى شي.

بيا كافرانو خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دار ته پورته كړ او شهيد يې كړ، نوموړي راتلونكي ته داسنت پريښود چې هرڅوک قتل كيده، دوه ركعته لمونځ دي كوي، (زرقانى ۲توک ٦٨مخ)

ديته ورته يوه واقعه درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژوند كې دزيدبن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ده، هغه داسې چې.زيد طايف نه بيرته تلو لپاره يو كچر كرايه كړى و، دكچر څښتن هم ور سره روان و، يو داسې ځاى ته يې بوته چې پكې دګڼ شمېر وژل شويو انسانانو جسدونه پراته وو، هلته يې دزيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوژلو اراده هم وكړه زيد هغه ته وويل:

ماته ددوه ركعتو لمونځ وخت راكړه!

هغه په مسخره سره وويل:

وکړه ، وکړه! دوه رکعته لمونځ وکړه، تانه وراندې خلکو هم لمونځونه کړي! خو هغوی ته لمانځه کومه ګټه ور نکړه!

حضرت زید رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې ددوه رکعتو فارغ شو، دکچر څښتن يې دوژلو په اراده ور مخکې شو ، په لیدو يې حضرت زید وویل: يَا اَرحمَ الراحِمین

ژ: اې ترټولو مهربان او رحم کونکیه!

دحضرت زید رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ له خولې داسم اعظم وتل و سم له بلې خوا غیبي اواز راغی:

لاَ تقتله ! مي قتلوه!

د دې غیبي غږ په اوریدو هغه سړی دومره وډارشو ،چې شاو خوا ته وکتل، خو څوک يې ونه لیدل، بیا دوژلو په اراده حضرت زید ته روان شو زید رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ بیا وویل: یا ارحمَ الراحمین ! له بره نه بیا غیبي اوازو شو ، په دې دکچر خاوند په شا لاړ، دریم ځل يې بیا دقتلولو اراده وکړه ، حضرت زید رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دریم وار هم یا ارحم الراحمین وویل، ګوري یوسپور شخص نیزه په لاس را څرګند شو، چې دنیزې په څوکه کې داور شغله ده. قاتل يې په هغه وواهه او دسترګو په رپ کې هغه دوه ټوټې په زمکه مړ پریوت.

سپاره شخص حضرت زید رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وویل:

کله چې تا په لومړي ځل وویل:[یا ارحم الراحمین] هغه وخت زه په اووم اسمان کې وم، بیا کله چې تا دویم وار وویل:زه ددینا په اسمان کې وم اوهرکله چې تا درېیم ځل ویل، زه تاته را ورسیدم.

دا روایت علامه سهیلي پخپل سند سره یوځای راوړی ، نومورې وایي زیدبن حارثه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته دا واقعه درسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ په ژوند کې پېښه شوې وه، (روض الانف ۲ټوک ۱۷۱ مخ، حاشیة البدایه والنهایه ۴ټوک ٦٥مخ)

په مستدرک حاکم کې له ابو امامه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی، چې رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي:

دالله (ﷻ) لخوا یوه پرښته ټاکل شوې، چې هر څوک دري ځله [یا ارحم الراحمین] ووایي، هغه پرښته ورته په ځواب کې وایي:[ارحم الراحمین] تاته متوجه شو ، وغواړه! او درخواست کوه!

دیته ورته واقعه دابومعلق انصاری رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم ده، څنګه چې دابی بن کعب او دانس بن مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ ځخه روایت دی ، هغوی وایي درسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ په صحابه وو کې ابو معلق انصاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ لوی عابد او زاهد و، هغه تجارت کاوه، ددې لپاره يې سفرونه هم کول، یوځل په سفر کې دیو وسله وال غل سره مخ شو، غل ورته وویل: ما ل دلته کېږده، زه تا قتلوم!

ابومعلق انصاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وویل: ستا هدف مال دی، هغه دادی واخله، زما په وژلو څه کوي؟ غل ویلي: نه! زما هدف ستا وژل دي، صحابي ویل، ښه نو دومره مهلت راکړه چې زه لمونځ وکړم، غل ... څومره لمونځ کوي ویي کړه:

ابومعلق انصاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اودس وکړ،لمونځ يې وکړ، دلمانځه وروسته يې دا دعاء وکړه:

يَاوَدُودُ ذُوالعَرشِ المَجِيد يَا فَعّال لِمَا تُرِيدُ اَسئالک بِعِزتک الّتِي لاتُرامُ ومُلکِک الّذی لایُضامُ وبِنُورِ ک الّذی مَلاَءَ اَرکَان عَرشِک اَن تَکفِینی شَرّ اللّصّ یا مُغِیثُ اَ غثنی.

درې ځله يې دا دعائیه کلمات وویل، ګوري چې یو نیزه په لاس سپور شخص د غل خواته راغی اوغل يې په نیزه وواهه غل ځای په ځای مړشو.

ما له هغه نه پوښتنه وکړه ته څوک یي؟ راته یې وویل:

الله تعالی زه ستا مرستې ته واستولم، زه دڅلورم اسمان یوه پرښته یم، کله چې په لومړی وار تا پورته دعاء ووغوښته، نوما داسمان د دروازو ټکو ل واریدل! کله چې په دویم وار تا دعاء وغوښته ، ما داسمان داوسیدونکو چېغې اونارې واووریدي ،کله چې دریم کرت تا دعاء وغوښته ،نو راته وویل شول، چې دا دیوه مضطرب او په مصیبت کې دمبتلی انسان فریا د دی، هم هلته ما دالله جَلَّجَلَالُهُ نه وغوښتل چې ما ته دده دقتل امر را کړي .

بیا یې وویل:

تا ته زیری درکوم چې هر څوک په مصیبت اوتکلیف کې مبتلی وي اودس وکړي اوڅلور رکعته لمونځ وکړي او دادعاء ووغواړي دهغه دعاء به قبلیږي.

غزوه احد کې چې حضرت عاصم سلافه بنت سعد په نوم دیوې میرمنې دوه ځامن وژلي وو، هغې (سلافه) نذرایښی و ،چې خامخا به دعاصم دسر په کاسه کې شراب څکي، ددې لپاره دهذیل قبیلي څو کسان دحضرت عاصم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سر پسې روان شول، څو په سلافه یې دپلورلو په بدل کې زیاتې پیسې ترلاسه کړي.

امام طبري وایي:چې سلافه اعلان کړی و، چې هر چا ورته دعاصم سر راوړو، سل اوښان به دانعام په توګه هغوی ته ورکوي .

حضرت عاصم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له وړاندې دخپل جسد دحفاظت غوښتنه له خدای جَلَّجَلَالُهُ څخه کړي وه، الله جَلَّجَلَالُهُ دهغه دعاء داسې قبوله کړه، چې دحضرت عاصم د جسد ساتنې لپاره یې د مچیو(غومبسو) یولښکرواستاوه، هغه د څلور خواوو نه جسد کلابند کړ، په دې سره هیڅ کافر ورته نیږدې هم نشو، هغوی وویل: اوس دورځې به یې پریږدو، ماښام چې تیاره شي او مچۍ لاړې بیا به راشو، سربه یې پریکړو، خو د شپې په راتلو داسې توپان راغی، چې دهغه جسد یې ویوړو، او هغوی بې د کومې لاسته راوړنې بیرته لاړل.

له قتاده څخه روایت دی، چې حضرت عاصم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دالله جَلَّجَلَالُهُ سره دا عهد کړی و، چې دی به هیڅکله کوم مشرک کافر ته لاس نه ورو ړي اونه به دکوم مشرک کافر لاس ځان ته پریږدي،دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وړاندې به چې هرکله دحضرت عاصم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذکر کېده، هغه به ویل الله جَلَّجَلَالُهُ ځینې وخت دخپلو خاصو بنده ګانو ساتنه له مرګ وروسته هم کوي، څنګه چې په ژوند هغوی ساتنه کوله (زرقانی ۲ټوک ۷۳مخ)

دمکې کافرانو دحضرت خبیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جسد په دار ځړولی پریښود، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت مقداد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دهغه د جسد ښکته کولو لپاره له مدینې منورې څخه مکې ته واستول، هرکله چې هغوی دواړه تنعیم ته ورسیدل، هلته ویني چې څلویښت سړي د دار په شاوخوا پهره کوي، حضرت زبیر او حضرت مقداد هغوی غافل وګڼل او لاړل جسد یې د دار نه ښکته کړ او آس ته یې پورته کړ، جسد تروتازه و، دڅلویښت ورځو تیریدو باوجود هم کوم تغیر یې نه وکړی، مشرکانو چې کله ستر ګې بیرته کړې، وېني چې جسد ورک دی، په هر ه خوا یې منډې رامنډې پیل کړې با لاخره حضرت زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او مقداد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

يې ومندل ،زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جسد ژرښکته کړاو په زمکه يې کيښود، زمکه وچاوديده او جسد يې هضم کړ، په دې وجه حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته بليغ الارض هم ويل کېږي.(البدايه والنهايه ۴توک ٦٧مخ)

په يو روايت کې دي: چې کله کفارو حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قتل کاوه، دهغه مخ قبلې ته و، هغوی ژر له قبلې تاو کړ، بيا قبلې ته شو، څو ځله يې داسې وکړل، آخر عاجز راغلل، پخپل حال يې پريښود.

ځېرنه: نومیالی محدث او سيرت ليکونکی مولانا محمد ادريس کاندهلوي رَحِمَهُ اللهُ په سيرة المصطفی کې پورتنو روايتونو په پام دا لاندې فوايد راوړي:

۱ـ دقتل په وخت کې لمونځ کول سنت دی، ترڅو خاتمه د ترټولو په ښه اوغوره عمل راشي،څنګه چې په يو حديث کې دي:

اذا قُمتَ فِی صَلاتِک فَصَلِ صَلاةَ مُودِّع، الحديث

ژ: کله چې لمانځه ته ولاړوي، نو ددنيا څخه دکوچ کونکي پشان لمونځ کوه .

(رواه احمدعن ابی ايوب، مشکوة شريف ، کتاب الرقاق ۳ فصل)

۲ــ دحضرت عاصم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا حيرانونکی حفاظت او بدون له کومې ظاهري وسيلې حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دانګورو په خوړو ليدل،دزيد بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابومعلق انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واقعه ټول ددې دليل دی ، چې داولياوو کرامتونه حق دي، او په دې باندې داهل سنت او الجماعت اجماع هم ده، دتفصيل لپاره دعلم کلام کتابونه ا و په خاصه توګه د دطبقات الشافعية الکبری ۲توک د۵۹مخ نه تر ۷۸ يم پورې کتل پکاردي.

۳ــ دحضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يا دکرامت دحضرت مريم عليها السلام کرامت سره مشابه دی، کوم چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په آل عمران سورة کې ياد کړی دی:

كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيهَا زَكَرِيا المِحرابَ وَجَدَ عِندَها رِزقًا قَالَ يَا مَريَمُ انّی لَکِ هذا قَالَت هُوَ مِن عِندِ . اِنَّ اللهَ يَرزُقُ مَن يَشآءُ بِغيرِ حِسَاب.

کله چې زکريا دمسجد په محراب کې مريم ته ورغی، هغې سره يې عجيبه او نا اشنا روزي وليده، نو وې ويل:اې مريمې!دا روزي تاته له کومه راځي، مريم ورته په ځواب کې وويل:داروزي دالله جَلَّ جَلَالُهُ لخوا راځي، اوالله جَلَّ جَلَالُهُ چې هرچاته وغواړي له وهم او ګومان څخه هم ډېره زياته روزي ورکوي .

۴ـ هرهغه کس چې مرګ ته نيږدي وي، دهغه لپاره دنوکانو او ويښتانو اصلاح مستحب او مستحسن کاردی،څنګه چې حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دمرګ څخه وړاندې بيتې وغوښته ،دالله جَلَّ جَلَالُهُ په دربار کې دحاضرې څخه وړاندې نظافت، او طهارت لازم او ضروري دی.

۵ـ که مسلمان دکافرانو سره قيد و، او هغوی يې دوژلو کلکه اراده هم و لري، دمسلمان لپاره بيا هم رونده چې دموقع په موندلو دهغوی کوچنيان قتل کړي، بلکې په هغوی به شفقت او ورسره مينه کوي ،څنګه چې حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحارث لمسی پخپل ورانه کينولی و او بيتې هم ورسره وه.

نوربيا.....

په اقصی جومات کې د صهیونیزم وحشت

له تیرو دوو میاشتو راهیسي صهیونیستي تاراکګرو د مسلمانانو په لومړی قبله مسجد اقصی باندي یو ځل یرغل پیل کړی، مسلمان لمونځ کونکي تهدید وي، ځیني یې شهیدان، ژوبل او یو شمېر یې بندیان کړي هم دي .

د راپورونو له مخي صهیونیستي عسکرو دتیر سپتمبر په میاشت کې پر اقصی جومات برید کې لمونځ کونکي وهلي او ځورولي اود دغه مبارک جومات ۱دروازه او ۳۲کړکۍ یې ماتي کړي او ۱۲ ځایه یې د مسجد شریف فرش سوځولی دی.

مسجد اقصی د قدس په ښار کې واقع دی، د مسلمانانو لومړی قبله ده، د ښپتې چارې یې حضرت داود علیه السلام پیل کړي او حضرت سلیمان علیه السلام دغه مبارک مسجدتکمیل کړی دی . اقصی مسجد یو وار یوې سختې زلزلې کې ویجار شوی دی . د اموي خلافت مشهور خلیفه عبدالملک بن مروان مسجد اقصی یو ځل له سره ودان کړی او صلاح الدین ایوبي مرمت کړی دی، داقصی مبارک جومات د تاریخ په اوږدو کې څو ځله له سره بنا شوی او ترمیم شوی دی .

په قران مجید کې د اسراء په سورة کې دانحضرت صلی الله علیه وسلم دمعراج دواقعې په اړه مبارک اية کې د مسجد اقصی ذکر شوی « سبحان الذی اسری بعبده لیلا من المسجد الحرام الی المسجد الاقصی » ، قدس د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په دور کې فتح شو او حضرت عمر رضی الله عنه خپله هم دې مقدس ځای ته ولاړ.

قدس اود اقصی مبارک مسجد له ډیرو وجو مسلمانانو ته د قدر ور مبارکه مرجع ده، په د ې مبارک مسجد کې د ډیرو انبیاء علیهم السلام یادګارونه شته ، دېلګې په توګه د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د معراج سفر له همدې ځایه پیل شوی، د حضرت زکریا

علیه السلام مصلی چې په مقام ذکریا علیه السلام سره یادیږي او دنورو انبیاء علیهم السلام مبارک اثار دلته شته.

مسجد اقصی چې له تېرو ٦٠ کلونو څخه د صهیونیزم تر ولکې لاندې دي څو ځله اسرائیلي پوځیانو بریدونه وربانديي کړي او زیان یې ورته اړولی دی،د راپورونو په اساس پر اقصی مسجد باندي د یهودي ځواکونو تر تولو زیان اړونکی برید ١٩٦٩ز،کې وشو، په دغه حمله کې اقصی مسجد وسوځول شو او داسلامي نړۍ د ستر اتل او دقدس د فاتح صلاح الدین ایوبي له لوري جوړ شوی منبر هم پکې له منځه یو وړل شو.

ځېرونکو پر اقصی جومات باندي دصهیونیستي ځواکونو دروان کال د سپتمبرد میاشتي برید په تېرو ٣٥ کلونو کي بیساري بللی دی،د دیر تاسف وړ ده چې تراوسه پوري د مسلمانو هیوادنو برحاله واکمنو ددې ستړي فاجعې په اړه کوم غبرګون نه دی ښوولی .

د مسلمان ملت پر لومړۍ قبله (اقصی) باندي د یرغلګرو صهیونیستانو حمله د بشرې حقونو او بین المللي قوانینو څخه بربنده اونه توجیه کیدونکې سر غړونه ده، د قدس او د فلسطیني خاورې د نورو سیمو اشغال داسرائیلي چارواکو هغه ستر حماقت او جنایت دی چې په هیڅ دول د زغملو وړ نه دی .

داسلامي نړۍ واکمنو او ولسونو ته په کار ده چې، د خپلې لومړۍ قبلې(اقصی جومات) دفاع او ساتنې ته تر هرڅه لومړیتوب ورکړي، له تولو ممکنه لار و چارو څخه په استفاده دغه مبارک مسجد د صهیونیزم د وحشي- او ناولي اشغال څخه خلاص کړي، تر څو مسلمانان خپل سر د امن په فضاء کي پنځه وخته خپل خالق او معبود برحق ته تیت کړي او د کائیناتو دپنځونکي اوپالونکي سره په دغه مقدس مقام کي رازو نیاز وکړي.

درپیمه برخه
مفتي حبيب الله قاسمي

د بانک نوټ ديني ليد لوری (شرعي حثيت)
[حكم الأوراق النقدية]

د بانک نوټ اړوند دريم نظر

ددې نظر خاوندان وايي چې : نوټ اوس دسرو زرو پرځای ولاړ اود هغو ځای ناستی دی ،نوپه دې توګه کوم ،حکمونه چې زرو لرل، لکه د زکات، بيع الصرف، ربوا"سود" اوداسې نور حکمونه هغه ټول حکمونه به پر نوټ پلي کيږي، . معناداچې : نوټ اوس په خپله ثمنيت موندلی دی ، نه يې د پور سندبولو او نه يې الات او اسباب (عروض) بولو ،بلکې دوی په خپله ثمني دي، ځکه چې بانک نوټ اوس زمونږ په دود کې د سروز زور ځای نيولي دی، نو دچاځای يې چې نيولي بايد دهغه ټول کوم حکمونه وريانديې پلي شي .

زياتره عرب علماء دهمدې نظر پلوي دي ۱ د مصر نامتوعالم شيخ احمدالبناء ، دغه راز د ((جدې بنار فقهي تولنې)) همدا نظر ديوه پريکړه ليک په ترڅ کې منلی دی ،چې متن به يې وروسته ولولو، په هندکې د مولانا عبدالحی لکهنوي رحمه الله همدانظر درلود، لکه چې دنومورې له ليکنو برښي، دغه نامتو عالم په خپله فتواکې په دې لړکې يوه پوښتنه داسې ځوابوي:

((پس فلوس اگرچه عرفا ثمن ،ستند مگر عين ثمن خلقی نه فهميده شده.

اند، بخلاف نوت که این عين ثمن خلقی ،ست، گو عنيت خلقيه نيست بلکه عنيت عرفيه است، پس جايز بودن تفاضل در بيع فلوس لازم نمی آيد که درنوت هم تفاضل جائز شود، چراکه فلوس غير جنس ثمن ،ستند، هم حقيقة وهم عرفا، گو بوجه اصطلاح وعرف در آن صفت ثمنيت آمده باشد، پس هرگاه نوت عرفا در جميع احکام عين ثمن خلقی فهميده شد در باب تفاضل بر آن بناء حکم داده خواهد شد، وتفاضل در آن حرام خواهد شد.))۲

ژباړه : فلوس که څه هم په عرف کې ثمني دي ؛ خوخلقي ثمن ورته نه شو ويلای ، هو! نوټ بياداسې نه دی ،هغه په خپله خلقي ثمني دي ،په دې معناچې : په

---

۱ وګورئ اسلام اوتوی اقتصاد ۱۷۸ مخ .

۲ مجموعة الفتاوی: ۳/ ۱۶ (فارسي)دخلاصة الفتاوي پرلمن ليک ،مکتبه عزيزيه کوئته. ددغې فتوا تاييد له پاره دروند مفتی محمدتقي عثماني په احکام الاوراق النقدية ۱۶مخ اوفقه البيوع دوهم ټوک ۷۲۶مخ لمن ليک کې ليکي : ((د مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله شاګرد مولانا فتح محمد لکهنوي رحمه الله، همدا نظر و، دغه نظر په خپل مشهور کتاب "عطر هداية" ۲مخ کې ليکلی . دنومورې دغه نظر يې زوی مفتي سعيد احمدلکهنوي په خپله خانګړي مقاله ((افتقار الناس الى رفع الحوايج بالسكة)) له ۲۱۷نه تر ۲۲۳مخ پورې راغلی ،دغه رساله له عطرهدايه د پايځور(ضميمه) په ډول چاپ شوې، تومورې زياتوي چې مولانا عبد الحي لکهنوي رحمه الله هم دغه نظر و)) . چې په دې سره د پورتنۍ فتوا پخلی نور هم کيږي.

نوټ کې که څه هم خلقي ثمنیت نه شته، خوهمدا ځانګړنه دود(عرف) ورکړی دی، نوپه فلوسوکې دبدلون پرمهال د زیادت دروا والی له حکمه دا نه لازمیږي، چې هغه ډول زیادت دې په نوټ کې هم روا ویلل شي ، نودمخکې خبرې معناداده، چې : په نوټ کې ثمنیت د دود (عرف) له امله راغلی ؛نوداچې په عرف کې نوټ د خلقي ثمنوپه توګه منل کیږي او په سرو کې د بدلون پرمهال زیادت ناروا دی ؛ نوپه نوټ کې به هم دغه زیاتوالی حرام وي.))

شیخ احمد البناء په دې اړه لیکی : ((فالذي أراه حقاً، و أدين الله عليه : أن حكمَ الورق المالي كحكم النقدين في الزكاة سواء بسواء؛ لأنه يتعامل به كالنقدين تماما؛ ولأن مالكه يمكن صرفه وقضاء مصالحه به في أي وقت شاء. فمن ملك النصاب من الورق المالي، ومكث عنده حولاً كاملاً وجبت عليه زكاةٌ باعتبار الفضة ...)).

ژباړه : هغه څه چې ماته حق ښکاري هغه دادي چې : نوټ کټ مټ له زور سره یوبرابر دی ،ځکه پر نوټ هم د زرو په څېر راکړه ورکړه کیږي ،دغه څیر د نوټ مالک کولای شي ،خپلې اړتیاوې د نوټ په مرسته کله یې چې زړه وغواړي بشپړې کړي ،ځکه خو وایو: که څوک دومره نوټونه ولري، چې سړي پرې د نصاب څښتن ګرځي اوبشپړ کال ورباندې تېر شي ؛ نو پر داسې سړي د سپینو زرو له حسابه زکات واجبیږي . ۳

په دې لړکې چې د((جدې)) ښار دسترې فقهې تولنې دپریکړې عربي متن داسې دی :

((وبعد الاطلاع على قرار المجمع رقم (٩) في الدورة الثالثة بأن العملات الورقية نقودٌ اعتباريةٌ، فيها صفة الثمينة كاملة، ولها الأحكام الشرعية المقررة للذهب.

والفضة من حيث أحكام الربا ، و الزكاة ، والسلم وسائر أحكامهما.٤

ژباړه : بانک نوټونه داسې زر دي ،چې عرف اعتبار ورکړی او روپی والی (ثمنیت) یې بشپړ دی، په دې معنا چې زر د سود، زکات، سلم کوم حکمونه لري ،هغه ټول د بانک نوټ هم دي .

د دریم نظردلایل :

لومړی دلیل :

داخبره خوټول علماء مني چې نوټ اوس دزور پر ځای راغلی دی اوبدیل یې دی ،په ټولو راکړه ورکړو کې له نوټ سره د زرو په څېر چلند کیږي، نوخامخابه په حکمونو کې هم دزرو په څېر وي، ځکه یوه اصولي قاعده لرو چې : ((البدل له حكم المبدل)) معناداچې بدل په حکمونو دهغه څه حکم اخلي، چې دی یې پرځای راغلی وي ،دلته هم نوټ بدیل او د زور په ځای راغلی دی .

دوهم دلیل :

په شرعی حکمونوکې ټول پام پایلې اوموخې ته وي، ځکه دایوه فقهي قاعده ده چې : ((الامور بمقاصدها)) دهر کار پایلې ترموخې ترلې دي ، نودې قاعدې ته په پام سره ظاهري خبرو ته نه کتل کیږي ،دلته هم نوټ یواځې ددې له پاره راغلی و، چې

---

۳ شرح الفتح الرباني، آخر باب زكاة الذهب والفضة : ۲۵۱/۸.

٤ دپریکړوشمیره : ۴مه ، دنوټونو دبیې دبدلون په کوبت کې دفقهي تولنې اړه پنځم کانفرانس جمادی الاول له لومړی نېټې څخه تر ٦مه کال ۱۴۰۹هـ ، دیسمبر له ۱۰مې تر ۱۵ نېټې پورې کال (دیسمبر) ۱۹۹۸م.

ډېخوانيو روپو(ثمنو) په ځای کار ورکړي، ځکه خو وايو چې : نوټ به هم دسپنو او سرو زور په څېر حکم ولري .٥

د دريم نظر په رڼاکې د بانک نوټ حکمونه :

ددې نظر په رڼاکې چې نوټ کټ مټ دزور په څېر وګرځيد اود زرو پرځای ودريده ؛ نواوس به دزرو ټول حکمونه پر نوټ پلي کيږي:

لومړی حکم : په بانک نوټ باندې زکات هم واجبيږي

دوهم حکم :په بانک نوټ باندې زکات هم ادا کيږي .

دريم حکم :په بانک نوټ د سود ټول ډولونه راځي ،داسې چې دنغدو او ياهم ډپور ورکولوپرمهال زياتې روپۍ غوښتل سود دی ؛ خودې خبرې ته مو بايد پام وي چې : دبانک نوټ ترمنځ په کموالي اويازياتوالي سره هغه مهال راکړه ورکړه ناروا ده، چې دواړه نوټونه ديوه هيواد وي،که چېرته ددوه هېوادونه وی، بيايې جنسونه سره توپير مومي، نوبيايي ترمنځ بدلون په زياتوالی سره سهي دي .

سره زر بيادغسې نه دي ،بلکې ټول يو جنس دي اوترمنځ يې په زيادت سره بدلون په هېڅ صورت کې روا نه دی . دغه راز د دواړه نوټونوترلاسه کول هم ضروري دي ځکه دغه بيع الصرف ده٦.

څلورم حکم : دنوټونو راکړه ورکړه ((بيع الصرف)) ده ، هغه مهال دغه راکړه ورکړه سهي ده، چې د ((بيع الصرف)) له ټولو شرطونو سره سم وي.

دريم نظر ته کره کتنه:

دغه نظر ډېرو دلايلو په رڼاکې کمزوری بريښي چې په لاندې ډول دي:

لومړی : يواځې په دې سره خو نوټ د سروز ځای ناستی نه شي ګرځيدای ،چې دود اوعرف له نوټ سره دزور په څير چلند کيږي او بيا پرهمدې بنسټ د دواړو حکمونه يوډول وبلل شي ، ځکه چې ددې امکان هم شته، چې نوټ په خپله روپۍ (ثمنې) وبلل شي، له دې پرته چې دبل چابديل وبلل شي،لکه چې همدغه حيثيت يو وخت فلوسو هم لاره اود زرو په څېر چلېدل، نوځکه دغه دليل کمزوري بريښي.

دوهم : بله داچې اوس دنوټونو ترشا هېڅ سره اوسپين نشته ؛خو بالفرض که ومنل شي ؛ نوبيابه د زکات او سود په مسئله کې ددې خبرې سپيناوی څوک کوي، چې ددې نوټ ترشا څومره سره زر پراته دي؟ اوددې ترشا څومره سپين زر پراته دي ؟ اوهغه زر ددې نوټ ترشا دي اوکه دبل ؟ دغه راز پريکړې به ډيرې ستونزې راولاړې کړي اوخلک به له لوی کړاو سره مخ شي، سره له دې چې په ديني حکمونو بيانولو کې اسلام ډيره اساني کړېده اوسختي يې نه ده غوره کړې، لکه چې د قرانکريم اوحديثو له لارښوونو همدا خبره بريښي .

---

٥ الفتاوى السعديه : له ٤٢٢مخ نه تر ٤٢٣مخ پورې .

٦ دبيع الصرف بشپړه شننه به که خدای کول په بله مقاله کې وکړو.

جهان اسلام

غرب فریبکار ومسلمانان نا امید!!

عبدالرحمن فرقانی

یاداشت: درین نوشتار منظور ما از کلمه غرب " قوت استعماری" غرب است، نه همه ملتها و مردم غرب که مطابق ارزشهای دین مبین اسلام ما مسلمانان به معامله حسنه ، داد وستد نیکو و احترام متقابل با آنها مکلف استیم.

غرب همواره در طول تاریخ در تقابل با جهان اسلام و کشور های جهان سوم سیاست دو رو ، سه رو و حتی چند رو را بازی کرده است، جهت مصونیت مصلحتهای مادی خویش همواره استقلال ، اراده و سرنوشت سیاسی کشورهای موصوف را زیر پا نموده است، جهت حاکمیت و سیطره همه جانبه و فرا گیربر جهان همواره کشور های مذکور را در برابر کشور های رقیب خویش به جبهه گیری تشویق نموده است، در میان حکومتها و ملتها ی کشورهای مذکور همواره عوامل تفرقه و فاصله را ایجاد نموده است، جهت به میان آوردن و یا فراهم نمودن فضاءِ بینظمی و عدم قانونیت همواره تلاش نموده است، درمورد تطبیق دیموکراسی روش غیر منطقی و غیر منصفانه را در بر گرفته است، درمورد ربط مفاهیم تروریزم، افراط ، وحشت ، تندروی و دهشت با دین مبین اسلام و برای پد یده های مذکور جهت دریافت شواهد از بطن جهان اسلام و خود مسلمانان تلاش ورزیده است ، تحت عنوان مبارزه با تروریزم، افراطیت، وحشت، تندروی .... در جهان اسلام و میان مسلمانان آتشی را شعله ورساخته است ، که افراد جهان اسلام در آن زندگی خویش را به گونه بی رحمانه از دست میدهند، سریال تبعید، تهجیر ،و کشتار مسلمانان به شکل افتضاح آمیز جریان دارد.

غرب همواره تحت عنوان و ذریعه شعار های فریبکارانه مبارزه با تروریزم و افراطیت جهت مداخله در امور کشوره ای جهان اسلام و جهان سوم برای خویشتن راه را هموار میکند، نه از لحاظ مادی برای کشور های مذکور حقوقی را فراهم نمود که نظامهای دیموکراتیک آنرا برای اتباع کشور های خویش در غرب فراهم میکند، ونه هم آن تروریزم و افراطیت ی را از پا در آوردند ، که اینها جهت محو آن به کشورهای جهان اسلام و جهان سوم تشریف آورده اند! . سپس مشکل ـ در پهلو این بحث که برخی از محللین به آن اشاره

میکنند:" ما مسلمانان بی انصافی میکنیم، که هر مشکل و مصیبت را بر دوش قوت استعماری غرب می اندازیم_ در کجاست؟ آیا مشکل در حکومتهای جهان اسلام و یا جهان سوم نهفته است؟ و یا اینکه مشکل در اساس آن به غرب بر میگردد؟ و چرا اتباع کشورهای جهان سوم و جهان اسلام وبخصوص مردم ستمدیده و زجر کشیده افغانستان، که اصولا زجر و ستم تحمل شده خویش را در مقابل همه بشریت میپندارد، با یاس و نا امیدی روبرو گردیده اند؟.

آنچه که در تاریخ معاصر جهان باعث تحول و تغییر عمیق و به میان آمدن ارزیابیها و سنجشهای جدید گردید، تجاوز روسها بالای افغانستان و بالاخره شکست افتضاح آمیز آنها در کوه های شامخ این دیار بود. اتفاق مذکور در تاریخ معاصر دقیقا سمت و سو های جدید را برای داد و ستد استعمار با جهان به میان آورد، در میدان جهاد افغانستان بر اساس اندیشه های جدید جریان های تازه سر بلند کرد، طور مثال با عرب های برگشته از میدان جهاد افغانستان عزم وارده مبارزه با استبداد خلق شد، در کشورهای مستعمره جهت استقلال و نیل به آزادی عزم واراده مبارزه مسلحانه به میان آمد، حتی با امپراطوری شکسته و ازهم گسسته روس نیز فکر و اندیشه ضرورت و نیاز ساز گاری با ارزشهای نظام مادیاتی "اشتراکیت" به میان آمد، با غرب باور و عقیده سرکوب نمودن روحیه جهاد و دشمنی با مسلمانان به میان آمد...

این یک واقعیت انکار نا پذیر است ، که محور رونما شدن حسابها، سنجشها، موقفها و دیدگاها جدید در جهان همانا جهاد افغانها در مقابل تجاوز وحشتناک کمونیزم علیه افغانستان است، و حقیقت اینست ، که جهاد افغانستان ساختار جدید جهان و نحوه جدید مبارزه و تاکتیک را به سطح جهان به میان آورد، انواع جدید مبارزه در جهان اسلام از طرف غرب علیه مسلمانان و از طرف مسلمانان علیه غرب به میان آمد، همگام با شکست و سقوط امپراطوری روس موقف غرب در برابر جهان اسلام تغیر نمود، جهان اسلام ممبعد حیثیت دشمن درجه اول را برای غرب کسب نمود، نه اینکه صفت و حیثیت یک دوست و متحد را که قبل از سقوط و یا شکست روسها داشت ، داشته باشد، غرب انگیزه ایثارگری بار آمده از جهاد افغانستان را که در مسلمانان جهان احساس مبارزه با استعمار، استبداد را می آفرید، درک نموده بود، لذا بیدرنگ در جلوگیری از به میان آمدن یک حکومت اسلامی واقعی در افغانستان پرداخت، و امکانات به میان آمدن یک حکومت واقعی اسلامی در افغانستان را که تا حدی میسر_ شده بود از میان برداشت و تلاش ورزید تا این آرمان مقدس مسلمانان در افغانستان و جهان متحقق نه شود.

خواهی نه خواهی این یک حقیقت آشکار و روشن است ، که در عصر_ حاضر تمام

بشریت مرهون ایثار و قربانی افغاها ست، چونکه افغانها در رهایی تمام بشریت از یک نظام خونخوار و وحشتناک نقش اساسی را ایفا کرد، وباید در مقابل ایثار و قربانی افغانها وجدان تمام بشریت به گونه به پیش افغانها ملامت و مسوول می بود ، طوریکه که وجدان اوروپا و غرب در مقابل حادثه مزعوم "هولوکست!" برای یهودها ملامت و احساس خجالت میکنند.!

اما با تاسف که غرب در مقابل ایثار و قربانی افغانها آنزمان جفای بزرگ را مرتکب شدند، که بر اساس اصول دیموکراسی در خانه خویش تهداب یک نظام غیر ملی و دیموکراتیک را گذاشتند، تحت شعار دیموکراسی بر خلاف دیموکراسی اقتدار را در میان برخی از گروه های سیاسی و نظامی بر اساس زور و نفوذ نظامی تقسیم کردند و گروهای مختلف موثر و غیر موثر از چارچوب حکومت مذکور بیرون گذاشته شدند، که راه جنگ و تصادم را به پیش گرفتند، و برای حکومت جدید چنین قطب مخالف را ایجاد نمودند تا وقتیکه مصلحتهای ایشان ایجاب مینماید با حکومت درگیر جنگ و تصادم باشند و همواره زمینه تصادم و جنگ وجود داشته باشد.

با وجود این همه یک بار دیگر افغانها احساس نمودند، که تا تهداب کج دیموکراسی که در شهر" بون" آلمان برای افغانستان تدارک دیده شده بود ، راست نمایند و سرنوشت سیاسی خویش را بدست خویش و به میل خویش مطابق اصول دیموکراسی تعیین کنند، و ازهمین سبب بود که با تمام متانت و اخلاص به طرف صندوق رای رفتند، و رای خویش را با متحمل شدن تمام خطرات و چالشها استعمال نمودند، و اراده کرده بودند تا جریان دیموکراسی را در افغانستان تصحیح کنند، اما مثل گذشته باز هم غرب حاضر نه شد، تا به افغانها این حق را که جهت تطبیق آن همین غرب فریبکارداد میزند و شعار بالا میکند را بدهد،تا سرنوشت خویش را خود تعیین کند!. ایثار و قربانی افغاها هدر رفت و هیچ ارزشی به آن قایل نه شدند، و جریان تطبیق دیموکراسی قربان همان هوس و آرزوی تیکه داران غربی شد، که جهت تطبیق دیموکراسی به افغانستان تشریف آورده بودند! و این واقعیتی است که در تمام جهان اسلام از الجزایر ، ترکیه ، تونس، مصر- گرفته تا عراق، لیبیا، یمن ، سوریه شواهد آشکار و روشن آنرا دریافت نموده میتوانیم.

بعد از فروپاشی امپراطوری روس غرب به حرکتهای مسلحانه جهان اسلام متلتفت گردیده برای تضعیف و از میان بردن نظام اسلامی بغرض تحقق اهداف خویش از آنها استفاده کرد، بر اساس عملکرد برخی ازین گروه ها تلاش بدنام ساختن ارزشهای اسلامی را نمود و تا حدی بزرگ درین دسیسه خویش موفقیت هم حاصل نمود، که حالات و حوادث کنونی جهان اسلام به شکل آشکار و روشن برین امر شاهد است ... د رپهلوی این حرکت مسلحانه حرکت مسالمت آمیز بنام "اسلام سیاسی" نیز عرض اندام نمود، و طبق

اصول دیموکراسی با غرب بازی را آغاز نمود، و ازینرو که در اغلب کشور های اسلامی حکومتهای استبدای حاکم بود و مردم از جور و ظلم شان به سطوح آمده بودند ، بلا درنگ در پهلو حرکت مذکور استاده شدند و از آن حمایت کردند و رای خویش را در انتخابات اغلب کشورها به نهضت های اسلامی "اسلام سیاسی" دادند. اما طوریکه قبلا اشاره نمودیم ، غرب باز هم حاضر نه شد ، تا برای تحقق پروسه دیموکراسی متعهد باقی بماند، و به آنعده از حرکتهای اسلامی حق حکمرانی و اقتدار را بدهند ، که مطابق اصول دیموکراسی مردم رای خویش را برایشان داده بودند و بالای آنها اعتماد نموده بودند، و در مظهر انتخابات عام و سرتاسری در کشورهای متعدد این حق را کسب نموده بودند.

در مجموع مردم مسلمان افغانستان و تمام جهان اسلام از سیاست چند رویه غرب در تطبیق پروسه دیموکراسی نا امید شده اند، هر چند ملتهای کشوره مذکور با تطبیق پروسه و پدیده دیموکراسی واقعی و صادق استند، به همان پیمانه غرب با ملتهای مذکور جفا میکنندو دستآوردهای دیموکراتیک مردم را احیانا از طریق اوردو های نظامهای استبدادی سرکوب میکنند، طوریکه در الجزایر و مصر اتفاق افتاد و جریان تطبیق پروسه دیموکراسی را دوباره به نقطه صفر و حالت استبدادی از قبل حاکم شده بر میگرداند و یا از طریق تفاهم سیاسی طوریکه در عراق و افغانستان اتفاق افتاد ، که پروسه تطبیق دیموکراسی را با کندی و چالش روبرو میکند. و اعتماد مردم را بالای دیموکراسی از هم میپاشد، و حالت بی نظمی و عدم قانونیت را مستقر میسازد، وزمینه وروحیه تصادم و به میان آمدن مشکلات در امور دولتداری همواره فراهم میباشد.

غرب به علت سیاست چند رویه خویش ملامت و مسوول است، اگر از یک سو شعار تطبیق دیموکراسی ،مبارزه با تروریزم و حمایت از حقوق بشر را بلند میکند از سوی دیگر جلوگیری از تطبیق دیموکراسی، ایجاد عوامل افراطیت و تروریزم، پامال کردن حقوق دیگران ، غارت ثروتها مسلمانان را راه اندازی میکند و روند افراطیت، جنگ و تروریزم را تقویه میکند.

غرب به علت تقویه تروریزم ، افراطیت ... در جهان اسلام ملامت ،مقصر و مسئوول است. ملتهای اسلامی بر اساس عملکرد خویش ثابت نموده اند، که در راندن و سرکوب کردن افراطیت، جنگ ، وحشت و بی نظمی و عدم قانونیت صادق استند و همواره اسلام بر تطبیق قانون(شریعت) در تنظیم امور تاکید ورزیده است، و میخواهند تا ازین پدیده های شوم و مردود رهای یابند و در چارچوب ارشادات اصیل اسلامی که برای همه بشریت سعادت و خوشبختی را میخواهد ، زندگی کنند. اما باز هم همین غرب سرانجام بر عملکرد خویش ثابت می سازد، که علیه مسلمانان دسیایس خویش را یکی پی دیگر براه میاندازد.

سید سعید

جنګي جنایتونه (اکتوبر)

دروان(۲۰۱۵) کال د اکتوبر د میاشتي په لومړۍ نیټه دزابل ولایت د دایچوپان ولسوالۍ په ملاخیلو کلي کي میشتو داخلي عسکرواتیا نفره ملکي هیوادوال د طالبانو سره د همکارۍ په تور شکنجه او بندیان کړي دي.

د اکتوبر په ۲مه یرغلګرو خواکونو کندوز کي د بې پولي ډاکټرانو روغتون بمبار کړ،

له دې پیښې وروسته د بې پولي ډاکټرانو سازمان وویل چي امریکایانو او ګډ حکومت ته یې د خپل روغتون موقعیت ښوولی ؤ، خو پردې خبر داري سربیره بیا یې هم پر دغه روغتیایې مرکز حملې دوام وکړ،پر یاد شوي روغتون په بریدکي په لسهاوو ډاکټران، نرسان، ناروغان او پایوازان شهیدان او ټپیان شول او د روغتون اتیا سلنه تاسیسات ویجاړ شول.تر دې پیښې دوې اونۍ وروسته د بي بي سي فارسي یو خبریال وویل چي کندوز کي د بې پولي ډاکټرانو پر روغتون حمله کي پنځه نوي تنه د روغتون عمله او ملکي وګړي شهیدان شوي چي د اکثرو جسدونه یې پیژندل شوی او یو د شمیر مړو پیژندنه لا نه ده تر سره شوې.

د اکتوبر په ۳مه دزابل ولایت د دایچوپان ولسوالۍ دمرجان کلي ته څیرمه داخلي عسکرو دواده په موټر په وسلوال برید کي د ناوې په ګډون شپږ تنې میرمني ژوبلې کړي دي.

د اکتوبر په ۳مه دغزني ولایت د خوګیانوولسوالۍ په کډې کلي کي کورنیو عسکرو دعامو خلکو کورونه په هاوانونو ویشتلي چي له امله یې د یو ې کورنۍ درې تنې ښځي او کوچنیان ژوبل شوي دي.

د اکتوبر په ۵مه دننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالۍ په نواقلوسیمه کي اشغالګرو او کورنیوعسکرو د سپین غر ولسوالۍ د مهاجرو پرکورونوچاپې اچولي،د چاپو په جریان کي یې اته تنه ملکي هیوادوال بندیان کړي،دوې عرادې سراچه موټر او یو کور یې سوځولی او په یاد شوي کور کي موجوده یوه غوایې یې په برچو وهلې ده.

داکتوبر په ۸مه د پکتیکا ولایت د یحیی خیلو ولسوالۍ د کودلو په کلي کي اربکیانو یو ملکي وګړی له خپله کوره را ایستلی او شهید کړی دی.

داکتوبر په ۸مه دکندهارولایت دښوراوک ولسوالۍ دسرلټ په کلي کي امریکایي خواکونو دکندهار دامنیه قوماندان رازق په ملتیا پر سیمه چاپه ووهله، دچاپې په ترڅ کي یرغلګرود خالد پر کور بمبار وکړ چي دیارلس تنه پکي شهیدان شول، ددې حملې وروسته د کلي خلګ له ډاره له خپلو کورنو څخه ووتل اود غره په لور د تګ په حال کي ووچي د یرغلګرو الوتکو یوویشت تنه پکي شهیدان کړل، دشهیدانو پیژندنه په دې ډول شوې ده:

دحفیظ الله دکورنی پنخه غړي شهیدان شوي،دحاجي محمد ګل اکا دکور درې کسان شهیدان شوي.ددین محمد دکور شپږ نفره شهیدان شوي،د محمدنعیم په نوم یو کس شهیدشوی، د عبدالغني یوزوی شهیدشوی،دنعمت الله یوزوی شهیدشوی، ددوست محمد یو زوی شهید شوی،دصاحب خان یوه لور شهیده شوې، محمدطاهر او زوی یې شهید شوی .همدا رنګه یرغلګرو درې تنه ولسي وګړي بندیان کړي هم دي.

په دې لویه چاپه کي چي د یرغلګرو خواکونو سره د کندهار د سرحدي لیوا عسکر هم ملګري وو ملکي خلګوته د خاني تلفاتو سربیره پراخ مالي زیانونه هم اوښتي دي.

داکتوبر په ۹مه امریکایانو د داخلي عسکرو په ملتیا د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالی په توکل، روستم خیلو او ازبک خیلو سیمو کې چاپې وهلي او هوایي بمبارونه یې کړي،دبمباریو په لړ کي د روستم خیلو په سیمه کې د قرآن کریم د ختم مراسم په نښه شوي،چې د شهداء د لیسې د معلم (وکیل) په ګډون یوولس تنه ملکي هیوادوال پکي شهیدان او ټپیان شوي دي.

داکتوبر په ۹مه د کندز ولایت دامام صاحب ولسوالی د قرغزوکلي او قیوم خان پله په سیمه کې د کورنیو عسکروپه ډزوکي د علي بیردي دسیمي درې تنه ولسي هیوادوال شهیدان شوي دي .

د اکتوبر په ۱۱مه د کابل چاپ سرنوشت ورځپاڼي لیکلي چي له کندوز څخه مهاجر شوو خلګو ورته ویلي چي د دوی کورونه د حکومتي عسکرو او خایي اربکیانو له لوري لوټ شول او دوی مجبور کړل شول چي سیمه پریږدي، سرنوشت دعایشې په نوم د کابل میشتي یوې ښځي له قوله لیکلي چي نوموړي ته خبر ورکول شو چي اربکیانو یې کور چور کړی دی.

د اکتوبر په ۱۲مه د غزني ولایت مرکز اړوند دنوغي په کلي کي د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کي درې تنه ولسي وګړي شهیدان شو ي دي.

د اکتوبر په ۱۲مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالی په شکوټ کلی کي د کورنیو عسکرو د هاوان په ډزو کي د محمد شرین په نوم د یو ملکي وګړي میرمن شهیده شوې ده.خایې خلګو رسنیو ته ویلي چي له تیرو څو ورځوراهیسي دتګاب او اله سایې ولسوالیو پر خینو سیمو د حکومتي خواکونو له خوا د ثقیله وسلو بریدونه روان دي چي دیر زیانونه یې ورته اړولي دي.

داکتوبر په ۱۳مه دبادغیس ولایت دغورماچ ولسوالی په بازارکي د داخلي عسکرو له لوري یو توغول شوی توغندی پر یو کور لګیدلی،دوې میرمني او دوه ماشومان یې له املې ژوبل شوي او کور یې زیانمن شوی دی.

د اکتوبر په ۱۴مه د لوګر ولایت د خروار ولسوالی په شمشیر کلا سیمه کي د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کي یوه ښځه شهیده شوې او څلور ماشومان ټپیان شوي دي.

داکتوبر په ۱۵مه دغزني ولایت د قرباغ ولسوالی د عسکر کوټ سیمي دملوک پرکلي خایې عسکرو دهاوان بریدونه کړي په پایله کي یې یوه میرمن شهیده شوې او درې ماشومان ټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۱۹مه رسنیو خبرورکړ چي د پروان پرلوی روغتون باندي خایې اربکیانو برید کړی خپل یودښمن اربکی زخمي یې له روغتون څخه ایستلی او درې تنه ډاکټران یې وهلي دي، ددې پیښې څخه وروسته روغتون د اعتراض په توګه تړل شوی دی.

داکتوبر په ۲۰مه د لوګر ولایت د خروار ولسوالۍ د کاریزګي پر کلي یرغلګرو خواکونو دهستوګني پر سیمه بمبار کړی،په یاد شوي بمبار کي د ددروتنو ماشومانو په ګډون شپږنفره ملکي هیوادوال شهیدان شوي او یو زیات شمیر نور ټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۲۱مه خایې اربکیانو د پکتیکا ولایت د اومنه ولسوالۍ دزواکي د کلي قومي مشر-(محمدعظیم) په وهلو کي شهید کړی دی.

د اکتوبر په ۲۱مه دلوګر ولایت د خروار ولسوالۍ د شیخان کلاپه سیمه کي د داخلي عسکرو د ثقیله وسلو په ډزوکي د یوه کور دوه ماشومان شهیدان شوي دي.

د اکتوبر په ۲۱مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ د خوګي په سیمه کي اشغالګرو د ولسي خلګو پر کورونو چاپې وهلې، د ملک شاه محمود او ګل ولي دکورنو څلور تنه غړي یې بندیان کړي دي.

داکتوبر په ۲۱مه خبر ورکول شوچي دبدخشان ولایت د وردوج او بهارک ولسوالیو لویې لاري کورنیوعسکرو دخلګو پر مخ ترلې چي له املې یې ولس د ژوند د لومړینو اسانتیاوو او اړینو خوارکي توکو څخه بې برخي شوی دی،په خبر کي ویل شوي چي له مرکز فیض اباد څخه چاوراکي یادوو شوو ولسوالیو ته اړین خوارکي او صحي توکي نه پریږدي چي له املې یې خلګ له شدیدي قحطۍ او ګرانۍ سره لاس وګریوان شوي دي.

د اکتوبر په ۲۳مه دزابل ولایت د اتغر ولسوالۍ دکلا په کلي کي د کورنیو عسکرو د هاوان په ډزو کي یو ماشوم شهید شوی او دوه زخمیان شوي دي.

د اکتوبر په ۲۷مه د جوزجان ولایت څخه په ورکول شوو راپورونو کي ویل شوي چي د جنرال دوستم په مشري عسکرو دخماب ولسوالۍ په مربوطاتوکي شل تنه ولسي وګړي د طالبانو سره دهمکارۍ په تور شهیدان کړي دي،د دوستم عسکرو د خلګو کورونه تلاشي کړي او تلاشۍ په پلمه یې ګینې،نغدي پیسې،موټر،موټر سایکلونه او نور قیمتي شیان له خان سره وړي دي.همدا رنګه ویل کیږي چي جنرال دوستم خپلو وسله والو ته امر کړی چي څو تنه عام خلګ ددې لپاره ووژني چي نور خلګ عبرت څني واخلي او څوک بیا د طالبانو سره همکارۍ ته زړه ښه نه کړي.

د اکتوبر په ۳۰ مه د پکتیا ولایت د خاخي اریوب ولسوالۍ په حسن کلي کي داخلي عسکرو د خلګو پر کورنو چاپې وهلې، دخلکو کورونه یې تالاشي کړي، ګینې، نغدې روپۍ، یو سل و پنځوس سیټه مختلف مبایلونه او نور قیمتي توکي یې له خان سره وړي دي.همدا راز تر تلاشیو وروسته د داخلي عسکرو په بمبار کي څلور تنه ولسي وګړي شهیدان شوي هم دي.

داکتوبر په ۳۰ مه دزابل ولایت د دایچوپان ولسوالۍ مربوط د خنخیرپوستې ته نژدې دهمدي پوستې عسکرویو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د اکتوبر په ۳۱مه د ننګرهار ولایت د سپین غرولسوالۍ د اچین کلي کي دمیشتو عسکرو له لوري توغول شوی توغندی دکلي پر مسجد لګیدلی، څلور تنه ولسي وګړي پکي شهیدان شوي او درې نفره ټپیان شوي دي.

مأخذونه :[بي بي سي رادیو،ازادي =،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،سرنوشت ورځپانه،خبریال ویبپانه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

خلیل احمد

انډیپینډینټ ورځپاڼه

افغان ځواکونه ولې د طالبانو مقابله نه شي کولای؟

لـه لندنـه خپرېـدونکې برتـانوي ورځپـاڼې «انډیپینډینټ» په خپله تازه ګڼه کې د کنـدز دوروستیو پېښو په اړه یو څېړنیز راپور خپور کړی دی.

راپور کې راغلي، چې طالبانو خو کنـدز ښـار د دوو اونیو لپاره نیولی و، مګر د طالبـانو دغې لنډمهالې بریـا د امنیتي خواکونو خواک او قوت د تل لپاره بې باوره کړ.

د راپـور لیکـونکی بـلال سروري د کنـدز ښـار د اوسېدونکو له قوله وایي، سره له دې، چې امنیتي خواکونو دغه ښار په بشپړه توګه نیولی، مګر دوی سره اوس هم دا وېره شته، چې کېدای شي طالبان یو خل بیـا د کنـدز پـر ښار ستر ډله ییز برید وکړي او دغه ښار یو خل بیا ونیسي.

د کندز ښار کې خلک خوراکي توکي او د ژمي لـه سړو د خان ژغورنې وسایل، لکه تېل، زغال او لرګي پلوري، مګر په ټول ښار یو ډول وېره خپره ده، چې کېدای شي طالبان یو خل بیا دغه ښار ونیسي او له همدې امله خلـک د ژوند اړین توکي په ګدامونو کې ساتي.

بـلال سروري د خـایي خلکـو لـه قولـه لـیکلي؛ دوی ګوري، چې زرګونو امنیتي او کوماندویي خواکونه د کندز ښار ژغورنې لپاره پـه مورچـو کـې ناست دي، مګـر، هغـه صحنه هم د دوی په سترګو کې ده، چې سلګونو طالبانو پـر کندز ښار برید وکړ او دغو زرګونو امنیتـي خواکونـو ورتـه ښار په ډېره اسانۍ پرېښود او له ښاره ووتل.

د لیکـوال پـه وینـا هغـه مهـال امنیتـي خواکونـو او استخباراتي ادارې چېرته وې او د کندز د سقوط مسوولیت د چا پر غاړه دی؟

د کندز د بیا نیولو پر مهال د واټونو او کوڅو جګړو له امله کندز په کنډواله بـدل شـو او طالبـانو هـم کنـدز د ننوتلو پـر مهـال مهمـې دولتـي ودانـۍ، د ان جـي او ګـانو دفترونه او نور مهم خایونه په نښه کړي وو.

انډیپینـډینټ د کنـدز ښـار د یـو اوسـېدونکي سـید رحیم له قوله لیکلي، چې حکومت د تېرو څو کلنو په ترڅ کې یو شمېر ودانۍ جوړې کړې، طالبانو د څـو ورځـو پـه ترڅ کې دغه ودانۍ ونړولې او دا بیا کلونو وخت ونیسي، چې دا ودانۍ له سره بیا رغول کیږي.

د کندز ښار یو ملکي مامور د نوم نه ښودلو پـه شرط انډیپینډینټ ته ویلي، چې طالبانو د دوی کمپیوټرونه، مهم دولتي اسناد او نور اړین دفتري کاغذونه سوخولي دي.

ورځپاڼه زیاتوي، چې د کندز ښار نږدې پرتې ګڼې سیمې اوس هـم د طالبـانو پـه لاس کـې دي او امنیتـي خواکونه پـه دغـو سیمو کـې عملیـات کـوي، مګـر د دوی بریاوې هسې سمبولیکې دي او په عملي توګه داسې څه نه تر سترګو کیږي.

وړمـه اونـۍ امنیتـي خواکونـو د توپونـو، نظـامي چورلکو او درنو وسلو په مټ دشت ارچي ولسوالۍ ونیولـه، مګر د ولسوالۍ په نورو سیمو کـې اوس هـم درنـې جګـړې روانـې دي. دشـت ارچـي کنـدز لپـاره د طالبـانو دوالي ملاعبدالسلام پلرنی ټاټوبی دی.

د بلال سروري پـه وینـا د دشـت ارچـي اوسـېدونکو دبمبار، توپونو او درنو وسلو له وېرې خپل کورونـه پرېښـي او نورو خایونو ته نقل شوي دي.

سیرت نظامی رسول الله صلی الله علیه وسلم بخش(٦)

ورخپانـــه د خـــايي خلکو له قوله ليکي، چې کندز د افغانستان کندو بلل کيږي او د جګړو له امله يې ټول زراعت په کښتونو کې تباه شو.

د دشت ارچي يو اوسيدونکي خالد بای انديپيندينټ ته ويلي، چې طالبان ورځ تر بلې قوي کيږي، د خپل واک او خواک سيمه يې نوره پراخيږي او خايي اوسيدونکو لپاره د طالبانو فعاليتونه د خوښۍ وړ دي.

انديپيندينټ د دشت ارچي د اوسيدونکو له قوله وايي، چې طالبان په سيمه کې پراخ او قوي حاکميت لري، خپل قاضيان او محکمه لري، خلک خپلې دعوې او حقوقي مسايل د طالبانو محکمو ته وروړي او له هغوی يې د حل و فصل غوښتنه کوي او په دغسې حالت کې خلک په ټيه دي، چې حکومت د خپلو خلکو لپاره څه کولای شي.

شرایط عسکری

در اردوی اسلام کسانی به عسکری، وسربازی گرفته میشود که دارای شرائط ذیل باشد:

۱ ـ بلوغ:

سن بلوغ در اسلام ، همانند بیشتر ممالک امروزی ، شانزده سالگی در نظر گرفته شده است .عسکری و سربازی تنها به مردان بالغ محدود نمی شود، بلکه زنان بالغ را نیز شامل می شود. رسول خدا (ص) زنان خویش را همانند دیگر زنان به قید قرعه ، در جنگ شرکت می داد.(البته برای کارهای خاص تهیه غذا، پرستاری از مجروحین،وانتقال آنها ازمیادین جنگ).

در روزگار خلفای راشدین و امویان ، شرکت زنان در جنگ مورد اعتراض کسی نبود. اما پس از روی کار آمدن عباسیان ، فقهائی پیدا شدند که شرط پنجم یعنی(مرد بودن) را به شرایط سربازی افزودند. با این کار اردوی وارتش اسلام از عنصری فعال ، که به روحیه و تعداد نیروهای آنان می افزود، محروم گشت ؛ و این انحرافی بود از ایشان که اجماع آن را تایید نمی کند.

۲ ـ اسلام:

(مسلمان بودن) از آن رو جزو شرایط سربازی قرار داده شده است که سرباز از روی اعتقاد و اخلاص از قلمرو اسلامی دفاع کند. ایمان یکی از مهم ترین اسباب وعناصر پیروزی است ؛ زیرا انسان بی ایمان هرگز مثل کسی که به استقبال مرگ می رود نمی جنگد و ممکن نیست که از خود پایداری و سرسختی نشان بدهد؛ و از این رو هرگز پیروز نخواهد شد.

۳ ـ سلامت:

سرباز باید از سلامت کامل و عقل سلیم برخوردار باشد. یکی اسباب ناتوانی سربازان ، بیماری مزمن ـ که امید بهبودی در آن نمی رود ـ و کوری است.

٤ ـ دلاوری:

معنای دلاوری این است که سرباز از بنیه ای نیرومند برخوردار بوده با جنگ آشنا باشد، توانایی استفاده از اسلحه را داشته باشد، سختیهای سفر را بتواند تحمل کند و ترسو هم نباشد.

بسیج:

بسیج به دو بخش تقسیم می شود و هر بخشی جایگاه ویژه وخاص خودش را دارد :

۱ ـ بسیج عمومی :

این نوع بسیج به منظور دفاع است یعنی درحالتی که قلمرو اسلامی مورد تجاوز قرار گیرد اعلام می شود. هر کس که از این نوع جهاد تخلف ورزد، به نفاق نسبت داده می شود و شدیدترین کیفرها بر او اعمال می شود.

در چنین وضعیتی ، جهاد، به تعبیر فقهاء فرض عین است .(ودر اصطلاح نظامی امروزی یعنی بسیج عمومی) معنای بسیج عمومی این است که تمام کسانی که توانایی حمل سلاح را دارند، برای شرکت در جنگ فراخوانده شوند.

۲ ـ بسیج خاص :

این نوع بسیج هنگامی اعلام می شود که دشمن در سرزمین خودش مورد تهاجم قرار گیرد. در بسیج خاص تنها شمار محدودی ازمبارزان و رزمندگان اسلام به جنگ فراخوانده می شوند. در چنین وضعیتی ، جهاد، به تعبیر فقهاء فرض کفایی است و معنای بسیج خاص این است که تنها برخی از کسانی که توانایی حمل سلاح را دارند به شرکت در جنگ فراخوانده می شوند یا دربخشی از قلمرو اسلامی ، کسانی که توانایی بر گرفتن سلاح را دارند، به جنگ فراخوانده می شوند..... ادامه دارد..

کتاب الوسول القاند. تالیف شیث خطاب. مترجم:راشد شهامت.

قسرت الله جمال

هغو چې بانکونه لوټل

اوس ښار کوتې جوړوي!

اشرف غني چې دا لوړه وکړه لومړنی برید یې پر کابل بانک وکړ، دا هغه بانک وو چې په هیواد کې د تر ټولو ستر خصوصي بانک ویاړ ورسره و او زرګونو مشتریان یې لرل خو کله چې د ۲۰۰۹ کال تاکنې وشوې د کرزي تاکنیز کمپاین او ځینو نورو خپل سریو له سخت رکود سره مخ کړ او باالاخره مات شو او دولت یې واک په لاس کې واخیست، نوم یې نوی کابل بانک شو او تر دې دمه یې هم د ورځې له میلیونونو زیان سره سره دولت مدیریت کوي.

په لومړي سر کې چې کله څېړنې وشوې، مالیې وزارت ورته میلیونونو ډالره پور ورکړ نو ویل کیدل چې تر ټولو ډیر پور تړې ددې بانک پخواني رئیس شیرخان فرنود، خلیل الله فیروزي، محمود کرزي د حامدکرزي ورور،حسین فهیم د قسیم فهیم ورور، حاجي ګلبهار چې د شمال ټلوالې پخوانی قومندان وو او..... ځینو نورو پکې بریتونه غوړ کړي و، دوی کله خوشې کله بندیان او کله به یې د توقیف امر کیده خو اشرف غني دا خبره ډیره جدي ونیوله او د عبدالله د اجرایه ریاست تر حکم وروسته یې بل حکم ددې بانک د قضیې د څېړلو په خاطر صادر کړ، په اول سر کې ورته هیلې ډیرې وې، هره ورځ د لویې څارنوالۍ خبرې ناستې ډیرو ته په زړه پورې وې ځکه ډیرو به ویل چې نور وطن په جوړیدو دی او د غني شته پریکنده دریځ کولای شي چې له غلو څخه دا وطن خلاص کړي خو نه داسې نه و بلکه دا په هیواد کې د معاصرې غلا د بل پراو پیل و.

نن به مو په خبرونو کې اوریدلي و چې ددې بانک وندې وال خلیل الله فیرزوي د کابل ښار په لسمه ناحیه کې چې تر ټولو مهم ځای دی او ځمکې پکې ډیرې ګراني دې د څو میلیونه ډالرو په ارزښت د سیټې ستار په نوم د ښارګوټي د بنسټ ډبره کیښوده چې دې پرانیستې ته د دولت د یو وزیر تر څنګ د ولسمشر- دریم مرستیال ضیا مسعود چې تل په خبرې ناستو او یا رسنیزو سریالونو کې د رونټیا، له فساد سره د مبارزې، له غلو د افغانستان د خلاصون او قانون د حاکمیت خبرې کوي ګډون کړی و، بل ګډونوال یې هم د کابل بانک د قضیې څېړونکی او د ولسمشر حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي و، دوی په نره نن د ټولو رسنیو په مخ کې نه یوازې فیروزې رسنیز کړ چې

خوشې شوی دی او ګرځي بلکه دی یې نور هم وهڅاوو.

